
# انالیز ۱ Analysis 1

## د پوهنتون لپاره لکچرنوټونه

## د ډېرو متحولو یا اووښتونو انالیز

## یا انالیز دوه




ليکونکي: د شتوتګارت پوهنتون د شميرپوهنې يا رياضي څانګه

د ماث انلاين څخه یا د شتوتګارت پوهنتون [illegible]

Ketabton.com

Smakhan1946gmail.com

ژباړی: ډ اکتر ماخان (ميرِي) شينواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوی څښتن په نامه

په دې هیله، چې په دې لیکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلې او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې په لار د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

د کتاب نوم: د ډېرو متحولو یا اووښتونو انالیزې

لیکونکي: د شتوتګارت پوهنتو د ریاضي څا نګه

د مات انلاین څخه یا د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه

ژباړی: ډ اکتر ماخان میرې شینواری

Smakhan1946@gmail.com

د چاپ لړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړي مننه

د دې لیکنې مل نورې خپروني د شتوتګارت د پوهنتون د شمیرپوهنې د څانګې د لکچرونو لړۍ چاپ باندې پیل کیږي

د هر څه له مخه د هغو لیکونکو پروفیسرانو څخه زیاته مننه، چې د لیکنو څخه یې زما د ژباړې لپاره تفاهم لري. ماته د دوي د لیکنو د ژباړې په هیڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې یوازې په یوه د پوهنې توانمندې ، مګر وروسته پاتې ژبې ویونکي ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفیسرانو له خوا په پوهنیزه اړخ کې- زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس- سره مرسته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

**بلواک یا تابع یا فنکشن** ۱

کربښیزې توابع ۳

ځلورې- یا مربع فنکشنونه یا – توابع ۴

**همغږیز توابع** ۶

برعکس – یا په څټ فنکشن ۹

**د فنکشنونو یا توابعو سره شمیرنه** ۱۱

ننوتي او وتلي - یا مقعر او محدبې توابع ۱۲
پولینوم ۱۵

**د پولینومونو سره انترپولیشن** ۲۱

د لاگرانج-پولینوم ۲۳

راشنل ( کسری یا نسبتي ) توابع ۲۵
کمپلکس راشنل- یا کسري توابع ۲۷
په ټوټه مات ټوټه کونه یا تجزیه کونه ۲۸
د حقیقي ټوټه کسر ټوټه ونه یا تجزیه ۳۳
د حقیقي ټوټه کسر ټوټه ونه یا تجزیه ۳۹
د اویلر-مویورې فرمول ۴۰
تانجنت او کوتاجنت ۴۱
د ارکوس توابع ۴۲
هارمونیک لړځیدنې یا رپیدنې ۴۳
اکسپوننشل توابع ۴۹

گټه یا ربح ۵۰

ټولیز توان توابع او لوگاریتم ۵۶

د ودې قانون ۵۷

د توان او لوگاریتم لپاره شمیرقوانین ۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک


| | |
|---|---|
| های پرابول تابع | ۵۹ |
| د یوې پرلپسې پوله ارزښت | ۶۲ |
| د کوشي قضیه | ۶۶ |
| همغږیز ه پولې ته تلنه | ۶۸ |
| د پرلپسې پولې ته تلنه | ۷۰ |
| نارېښتونی پوله ارزښت | ۷۱ |
| پوله اینفریور او پوله سوپریور | ۷۲ |
| پرتله کوونکې قضیه | ۷۳ |
| د یوې پرلپسې پنډغالي ټکی | ۷۵ |
| ورهولست- مودل | ۷۶ |
| ریکورژن | ۷۶ |
| د پيPi رکورزیو اپروکسیمیشن | ۷۸ |
| د پرلپسیو یا ترادفونو ځانګړي ... | ۸۲ |
| د یوې لړۍ پرلپسې ............. | ۸۴ |
| هندسي یا ځمککچیزې لړۍ | ۸۶ |
| هارموني لړۍ | ۸۸ |
| مطلق پولې ته تلونکې لړۍ | ۸۹ |
| مایورانت او مینورانت | ۹۰ |
| د وېش قضیه | ۹۱ |
| د ریښې قضیه | ۹۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لايبنيڅ قضيه ۹۴

د لړيو ځانګړي پوله ارزښتونه ۹۸

ناپرېکيدنه يا متماديت ۹۹

يو اړخيز ناپرېکيدنوالى يا متماديت ۱۰۲

د ناپرېکيدونکو توابعو لپاره ... ۱۰۴
منځ ارزښت جمله ۱۰۷
د دوه سطحو – يا برخو تلنلار ۱۰۹
د ناپرېکيدونکي تابع افرطيت ۱۱۰

برابرډوله ناپرېکيدنوالى ۱۱۱

په ټکي ډول پولې ته تلنه برابرارزښته ... ۱۱۲

د توابعو لړۍ پولې ته تلنه ۱۱۴

توابعو لړۍ ته مايورانت يا پورته پولې ۱۱۶

د اکسپوننشل تابع ضرب انخورونه ۱۱۷
د اکسپوننشال تابع لړۍ انځورونه ۱۱۹

مشتق(رابيليدنه)

د بنسټتوابعو مشتق يا رابيليدنه ۱۲۴

د مشتق يارابيليدنې کربنزوالى ۱۲۷

د ضرب قانون ۱۲۷

د وېش قانون يا لار ۱۲۹

ځنځيرى لار يا – قانون ۱۳۰

ايمپليځيت مشتق نيول ۱۳۲

د لايبنيڅ قاعده يا لار ۱۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

لوگاریتمي مشتق یا – رابیلیدنه ۱۴۱
د رولې جمله ۱۴۳
منځ ارزښت قضیه ۱۴۴
ټولیزه (شوې) منځ ارزښت جمله ۱۴۵
لانداو-سیمبول ۱۴۷
د لو، پیتال قاعده یا لار ۱۴۸
کرښیزاپروکسمیشن ( ورنږدېوالی) ۱۵۰
د ناټیکاوي وده ۱۵۱
د نیوټن تلنلار یا – قانون ۱۵۳
د تیلور پولینوم ۱۵۷
حقیقي د تیلور لړئ ۱۶۱
اکسپوننشل تابع ۱۶۳
د اویلر فرمول ۱۶۵
د لوگاریتم تابع ۱۶۶
بینومیال لړئ ۱۶۷
د تیلور –لړئ مشتق او انتیگرال ۱۶۸
د تیلور-لړئ ضرب ۱۷۰
د تیلور-لړئ وېش ۱۷۲
د راشنل توابعو تیلور-ودیزېنه ۱۷۴
د یوې تیلور – لړئ ۱۷۵
د معکوس تابع د تیولور ودیزیینه ۱۷۷
د تیلور ځانگړې لړئ ۱۷۸
د پاد نږدې ارزښت شمیرنه ۱۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکستریما(افراطیت) ۱۸۱

د اکستریم – یا افرطي ازښتونو ازماېښت ۱۸۵

پولینوم ۱۸۶

اسیمپټوټي( یو په بل نه پرېوتونکي یا ګاونډیتوب) ۱۹۰

د راشنل- یا کسر توابعو ګاونډ یا اسیمپټوټي ۱۹۱
د کږو یا منحنیو خبرې یا بحث ۱۹۲
ریمن-انتیګرال ۱۹۸

د انتیګرال خویونه ۲۰۱

د انتیګرالشمیرنې منځ ارزښت جمله ۲۰۱

بنسټیز – یا ساده توابع ۲۰۳

د بنسټیزو توابعو لومړني توابع ۲۰۷

ټوټه- یا پارشل انتیګرالونه ۲۰۷

دلتا - تابع ۲۱۲

د متحولو – یا اووښتونو بدلون ۲۱۳

د متحولو – یا اووښتونو بدلون ۲۱۹

ساده راشنل انتیګرالونه د زیاتواره قطب سره ۲۲۲

د راشنلتوابعو انیګرالونه ۲۲۵

د ساین او کوساین د ضرب انتیګرالونه ۲۲۷

د کمپلکس تریګونومتیکي توابعو انتیګرالونه ۲۲۸

تریګونومتریکي بدلونونه ۲۳۰

د ساین او کوساین راشنل توابع ۲۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

د ځرخیدونو بدنونو ډکی یا حجم ۲۳۶

د یوې کرښې یا منحني اوږدوالی ۲۴۱

د ذوزنقې قانون ۲۴۴

د ګاوس فرمول ۲۴۸

ناڅرګند یا نا معلوم انتیګرال ۲۵۱

د نامعلوم انتیګرال لپاره د پرتلې قضیه ۲۵۵

ګاما تابع یا – فنکشن ۲۵۸

د کوشي اصلي ارزښت ۲۵۹

د انتیګرال لاندې مشتقول ۲۶۰

لایبنیځ-قانون ۲۶۳

د نامعلومو انتیګرالونو مشتقول ۲۶۸

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ شوې،

چاپیدونکې او چاپ ته چمتو لیکنې ۲۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library




## بلواک یا تابع (ټیک یې: فنکشن) Funktion

یو فنکشن یا بلواک یا تابع
$$f : D \to \mathbb{R}, \quad x \mapsto f(x)$$

د تعریف ورشو $D \subseteq \mathbb{R}$ هرتوکی $x$ د ارزښت ډېرۍ $W \subseteq \mathbb{R}$ څخه د یوه ارزښت $f(x)$ سره تنظیموي.

د $f$ ګراف له جوړو $(x, y)$ د $y = f(x)$ سره جوړ دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د ځيرې ځخه چې ليدلکيږي، تعريفورشو (رنه خړه يا پرته) او ارزښت ورشو ( تياره خړه يا ولاړه) په $x$ -محور همداسې په $y$ -محور د ګراف پريوتل دي.

ليکونکي: هيوليګ، هورنر، کنش

د دې لپاره چې د تابع

$$f(x)=\frac{\ln(3-x)}{\sqrt{x}-1}$$

تعريف ورشو او ارزښت ورشو وټاکو، لومړی دې د په ساده –يا لومړنيو توابعو رامنځ ته کيدونکې بنديزونه يا محدودوالی په پام کې ونيول شي. د تعريف ورشو د توکي لوګاريتم بايد زياتيز يا مثبت وي او د ارزښت ورشو ناکميز يا نامنفي وي:

$$3-x>0 \quad \text{او} \quad x\geq 0.$$

په همدې توګه بايد ماتلاندې يا مخرج صفر نه وي، دا په دې معنا چې


$$x\neq 1.$$

په ټوليزه توګه راکوي:

$$\mathrm{D}=[0,3)\backslash\{1\}=[0,1)\cup(1,3).$$

.

د $f$ ارزښت ډېرۍ د ګراف رسموو سره روښانه شي



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې $f$ د $x \in (1,3)$ لپاره د $-\infty$ او $+\infty$ ترمنځ ټول ارزښتونه نیسي، $W = \mathbb{R}$ باور لري.

لیکونکي: هیولیک، هیورنر،کنش)

لاندې جدول د څو بنسټیزو توابعو تعریفورشو او ارزښت ورشو ښايي.


| $f(x)$ | $D$ | $W$ |
|---|---|---|
| $1/x$ | $\mathbb{R} \setminus \{0\}$ | $\mathbb{R} \setminus \{0\}$ |
| $\ln x$ | $(0, \infty)$ | $\mathbb{R}$ |
| $\tan x$ | $\mathbb{R} \setminus \{x : x = (2k+1)\pi/2,\ k \in \mathbb{Z}\}$ | $\mathbb{R}$ |
| $\sqrt{x}$ | $[0, \infty)$ | $[0, \infty)$ |

(لیکونکي: هیولیک، هیورنر،کنش)

## کرښیزفنکشنونه یا توابع

د یوه کرښیز فنکشن یا تابع
$f(x) = ax + b$

ګراف یوه کرښه ده د $a$ جګیدني او $y$ -محورغوځي( محورقاطع) $b$ سره .



(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره بديلي انځورونه د ټکي-جګيدنې – بڼه ده

$$\frac{y - y_0}{x - x_0} = a$$


او د دوه-ټکو- بڼه

$$\frac{y - y_0}{x - x_0} = \frac{y_1 - y_0}{x_1 - x_0},$$

چيرته چې $(x_0, y_0)$ او $(x_1, y_1)$ په کرښه پراته ټکي دي.

(ليکونکي: هيوليګ، هيورنر)

ځيره د کرښيزو توابعو بيلي بيلي انځورونې په کوته کوي:




ليکونکي: هيوليګ، هيورنر

## څلورۍ- يا مربع فنکشنونه يا - توابع

د يوه مربع تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(x) = ax^2 + bx + c$$


کراف د لاندې بڼې يو پارابول دی

$$y = a(x - x_0)^2 + y_0$$

د ککرۍ- يا رأسټکي

$$(x_0, y_0) = \left(-\frac{b}{2a}, -\frac{b^2}{4a} + c\right).$$

سره.




پای

- که يو تن د يوه کونج $\varphi$ لاندې په يوه $v$ چټکتيا و توغول شي، د الوتنې لار دا لاندې پارابول


$$y = x \tan\varphi - \frac{g}{2v^2 \cos^2\varphi} x^2$$

راکوي ، چيرته چې $g$ د ځمکې بيره ده يا - تعجيل دی.

لاندې ځيره: مايیل توغول يا غورځول د v = 6 سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library






مساوات د برابرډوله خوزښت په $x$ - او $y$ -کمپوننتونو د بيلوني يا ټوټه کوني( که غواړې: تجزيې) څخه لاس ته راځي ، د $v$ پيل چټکتيا سره او د ازاده غوزوني د خوزښت ته پام کوني له لارې:

$$x(t) = vt\cos\varphi \quad \Rightarrow \quad t = \frac{x}{v\cos\varphi}$$

$$y(t) = vt\sin\varphi - \frac{1}{2}gt^2$$

$$\Rightarrow y(x) =$$

$$= \frac{vx\sin\varphi}{v\cos\varphi} - \frac{gx^2}{2v^2\cos^2\varphi} = x\left(\tan\varphi - \frac{gx}{2v^2\cos^2\varphi}\right).$$

د غورځوني واټن دی

$$x = \frac{2v^2\cos^2\varphi}{g}\tan\varphi = \frac{v^2}{g}\sin(2\varphi).$$

دا د $\varphi = \pi/4 \,\widehat{=}\, 45°$ لپاره ماکسيمال دی.
ليکونکي: هيوليک، هيورنر،کنش

## همغږيزې توابع **Monotone Funktion**

(c) ketabton.com: The Digital Library




یو تابع $f$ په یوه انتروال D (کره) همغږیز جګېدونکی دی، که وی

$$x_1 < x_2 \Rightarrow f(x_1) \overset{(<)}{\leq} f(x_2), \quad x_k \in D,$$

همداسې که $f$ ټوټه ډوله ناپرېکېدونکی مشتقوړ دی، که وي

$$f'(x) \overset{(>)}{\geq} 0$$

د ټولو $x \in D$ لپاره تر ځانله یا جدا ټکي بورې




همغږیز جګېدونکي        کره همغږیز جګېدونکي


په ورته توګه (کره) همغږیز ټیټېدونکی تعریفیږي.

یکونکي: هیولیک، هیوررنر،کنش

تابع $x \mapsto f(x) = \frac{1}{3}(x-2)^2(x+1)$ په $x = 0$ ځای کې یو جګ- یا ماکسیمال ټکی ($f'(0) = 0, f''(0) < 0$) لري او په $x = 2$ ځای ټیټ-یامینیمال ټکی ($f'(2) = 0, f''(2) > 0$) لري . د $x \leq 0$ او $x \geq 2$ لپاره تابع کره مونوټونجګېدونکي نخ ده او د $0 \leq x \leq 2$ لپاره کره مونوټون ټیټېدونکي نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library








یکونکي: هیولیک، هیورنر،کنش

جوړه او ناجوړه – یا جفت او طاق توابع

یو تابع $f$ جوړه دی، که $f(x)=f(-x)$ وي، دا په دې معنا چې که ګراف د $y$ - محور سره سیومتریک وي. یو ناجوړه یا طاق تابع $f(x)=-f(-x)$ دی، او ګراف سرچیني سره ټکی سیومتریک دی.




جوړه یا جفت تابع





ناجوړه یا طاق تابع

د دوه جوړه توابعو ضرب جوړه تابع دی. برعکس د یوه ناجوړه یا طاق تابع ضرب د یوه جوړه تابع سره ناجوړه دی. د زیاتون یا جمعي او کمښت یا تفریق جوړولو سره د تابع تیپ یا ډول ساتلی پاتیږي.
پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې توابع يو کيڼ لور ته يو څو جوړه (جفت) او ښي لور ته يو څو ناجوړه (طاق) توابع ښايي.




د مناسب ترکيب جوړولو سره سرې نورې بېلګې لاس ته رواړي. نو توابع

$$f(x) = x^2 \cos x - x^3 \sin x, \qquad g(x) = -2 + \frac{1}{x^2}$$

جوړه دي او

$$h(x) = f(x) \sin x - g(x) x^3$$

ناجوړه دي.
پاي.

## برعکس – يا په څټ فنکشن - تابع Umkehrfunktion

د يوه اينجکتيو (په کې -) تابع $f : D \to W$ د تعريفورشو $D$ او ارزښت ورشو $W \subseteq \mathbb{R}$ سره د

$$f^{-1} : W \to D \subseteq \mathbb{R}, \; x \mapsto f^{-1}(x)$$


له لارې تعريف دی. له دې سره لاندې باور لري

$$y = f(x) \iff x = f^{-1}(y).$$

د برعکس توابعو تعريف ورشو د $f$ ارزښت ورشو ده. د هغه ګراف $y = f^{-1}(x)$ د $f$ د ګراف په لومړي کونجنيمی $(y = x)$ هنداره شوې څېره ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library








کيدی شي ليکندود $f^{-1}(x)$ مو په ساده توګه د معکوس ارزښت $f(x)^{-1} = \frac{1}{f(x)}$ سره بدلولو ته لار ښود کړي. په ځانګړې توګه ، که د تابع $x$ ارزښت ونه ليکل شي، دا اړيکې دې بايد روښانه وي، چې موخه مو څه ده.

پای.


لاندې ځيرې د يو څو بيلګو برعکس - يا په څټ فنکشن يا تابع ښايي.



(c) ketabton.com: The Digital Library






په لاندې جدول کې هر اړونده تعریف ورشو وې ورکړ شوې دي:

| $f$ | $D$ | $f^{-1}$ | $D$ |
|---|---|---|---|
| $x^2$ | $\mathbb{R}$ | $\sqrt{x}$ | $[0,\infty)$ |
| $e^x$ | $\mathbb{R}$ | $\ln(x)$ | $(0,\infty)$ |
| $\frac{1}{x}$ | $\mathbb{R}\setminus\{0\}$ | $\frac{1}{x}$ | $\mathbb{R}\setminus\{0\}$ |
| $\tan x$ | $\mathbb{R}\setminus\{x : x=(2z+1)\pi/2 , z\in\mathbb{Z}\}$ | $\arctan x$ | $\mathbb{R}$ |

## د فنکشنونو یا توابعو سره شمیرنه Rechnen mit Funktionen

د توابعو کرښیز ترکیب تکي دوله تعریف شوی دی، دا په دې معنا چې په توابعو د اړونده عملیو له لارې:

$$(rf+sg)(x) = rf(x)+sg(x).$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورته توګه ضرب $fg$ او وېش $f/g$ . په وېرش کې باید $g$ د صفر سره برابر نه وي..
بالاخره

$$(f \circ g)(x) = f(g(x))$$

د دوه توابعو یو په بل پسې راوستل یا ځنځیرونه ښايي.
پای.

د بیلګې

$$f(x) = x^2 - 4, \qquad g(x) = x + 2$$

لپاره مختلفې ترِنې راکوي

$$\begin{aligned} (f + 2g)(x) &= x^2 + 2x \\ (fg)(x) &= x^3 + 2x^2 - 4x - 8 \\ \left(\frac{f}{g}\right)(x) &= x - 2, \qquad x \neq -2 \end{aligned}$$

په وېش کې تعریفتشځای $x = -2$ له منخه تلونکی یا د جګیدو وړ دی،

ځکه چې صورت یا ماتباندې $x^2 - 4 = (x + 2)(x - 2)$ هم په $x = -2$ کې یو صفرځای لري.

د $f$ او $g$ یو په بل پسې ترِنه یا ځنځیرونه راکوي

$$\begin{aligned} (f \circ g)(x) &= (x + 2)^2 + 4 \\ (g \circ f)(x) &= x^2 - 2, \end{aligned}$$

نو ترِنه یا عملیه $\circ$ کموتاتیو یا بدلوړ نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ننوتي او وتلي - يا مقعر او محدبې توابع

يو تابع په يوه انټروال D کې( کره ) ننوتی دی، که هر ټوټه ووني يا سيکانت د ګراف پورته لور ته پروت وي، دا په دې معناچې

$$f((1-t)\,x_1+tx_2)\overset{(<)}{\leq}(1-t)\,f(x_1)+t\,f(x_2)\,,\quad t\in(0,1)$$

د ټولو $x_i \in D$ لپاره.




که $f$ دوه واره ناپرېکېدونکی مشتقوړ وي، نو (کره) ننوتنه د ټولو $x \in D$ لپاره د

$$f''(x)\overset{(>)}{\geq}0$$

سره تر هغه ځانله ټکي پورې ورته يا برابر ارزښته ده.

د ننوتو توابعو زياتون يا جمعه ننوتي ده. ټرني يا عمليې $/,\cdot,-$ همداسې يو په بل پسې راوړنه يا ځنځيرونه $\circ$ په ټوليزه توګه ننوتوالی نه ساتي. بالاخره هر ننوتی تابع ناپرېکېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورته توګه وتلی تابع هم تعریف کیږي. د وتلي تابع لپاره ټوټه وونی یا سیکانت د ګراف کښته لور ته پروت دی، دا په دې معنا چې د $x$ - محور باندې هنداره شوی $-f$
تابع وتلی دی.

پای.

د دوه ننوتو فنکشنونو یا توابعو جمعه یا زیاتون د تعریف څخه ترلی لاس ته راځي:


$$
\begin{aligned}
&(f+g)((1-t)x_1+tx_2) \\
&\quad = \quad f((1-t)x_1+tx_2)+g((1-t)x_1+tx_2) \\
&\quad \leq \; (1-t)\,f(x_1)+t\,f(x_2)+(1-t)\,g(x_1)+t\,g(x_2) \\
&\quad = \; (1-t)(f+g)(x_1)+t(f+g)(x_2),
\end{aligned}
$$

د کوم سره چې د نابرابرون ننوتوالی د $f$ او $g$ څخه کار اخستل کیږي.
نورې ترنې یا عملیې په ټولیزه توګه ننوتوالی نه ساتي، لکه چې لاندې بیلګې به یې وشایي.

یو په بل پسې ترنه　　　　ضرب او وېش

(c) ketabton.com: The Digital Library






د دې لپاره چې په يوه ټکي کې د تابع ناپرېکدنوالی وښايو، ټاکو $c < a < x < b$. نو دی

$$x = ta + (1-t)b$$

$$a = sx + (1-s)c$$

د $0 < s,t < 1$ سره. داچې ننوتی دی، نو باور لري

$$f(x) - f(a) \leq (1-t)(f(b) - f(a))$$

همداسې

$$f(x) - f(a) \geq \left(\frac{1-s}{s}\right)(f(a) - f(c)),$$

د $f(a) \leq sf(x) + (1-s)f(c)$ له امله.

د $x \to a$ لپاره $s$ او $t$ د $1$ په لور هځيږي، او له دې سره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

$$\lim_{x\to a}(f(x)-f(a))=0.$$

د $x<a$ لپاره ورته دلیل راوړل کیږي.

## پولینوم Polynom

د $n$ درجې یو پولینوم $p$ په لاندې بڼه لیکل کیږي

$$p(x)=a_0+a_1x+\cdots+a_nx^n$$

د $a_n\neq 0$ سره.


اووښتوني یا متحولې $x$ او ضریب یا ځلووني $a_k$ کیدی شي حقیقي – همداسې کمپلکس ګڼونه یا عددونه وي. په اړونده توګه د حقیقي همداسې د کمپلکس پولینوم څخه غږیږو.
لیکونکیة: هیورنر او هیولیګ

لاندې څیرې مکعب ډوله ( $n=3$ ) او کوارتیک ډوله ( $n=4$ ) پولینومونه د څرنګوالي له لورې مختلف تابع ګرافونو سره ښایي.

کوارتیک پولینومونه　　　　مکعب پولینومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library






## پولینوموېش Polynomdivision

پولینومونو $p$ او $q$ ته د $m = \text{Grad}\, q \le \text{Grad}\, p = n$ سره یواځني
پولینومونه $f$ او $r$ شتون لري د
$p = fq + r, \quad \text{Grad}\, f = n - m, \quad \text{Grad}\, r < m$.
سره.

دا توټه ونه کیدی شي د وېش له لارې د باتي یا باقی سره وټاکل شي.

په ځانګي توکه د $p$ د صفرځای $t$ لپاره لاس ته راځي چې $p(x) = f(x)(x - t)$
دی د $\text{Grad}\, f = n - 1$ . ېر سره.

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $q$ سره د $p$ وېش څخه لرو

$$\underbrace{a_n x^n + \cdots}_{p(x)} = \frac{a_n}{b_m} x^{n-m} \underbrace{(b_m x^m + \cdots)}_{q(x)} + p_{n-1}(x)$$

د یوه پاتې یا باقي $p_{n-1}(x) = a'_{n-1} x^{n-1} + \cdots$ سره.

که $m \leq n-1$ وي کېدی شي بیا ووېشل شي:

$$p_{n-1}(x) = \frac{a'_{n-1}}{b_m} x^{n-1-m} q(x) + p_{n-2}(x) .$$

پروسه پرې کیږي، که د پاتې پولینوم درجه له $m$ کوچنۍ وي، دا په دې معناچې وروسته د $r = p_{n-(n-m+1)}$ . سره.
د تل بیا ضرب له لارې لاس ته راځي

$$f(x) = \frac{a_n}{b_m} x^{n-m} + \frac{a'_{n-1}}{b_m} x^{n-1-m} + \cdots .$$

که $t$ د $p$ صفرځای وي، نو باور لري

$$0 = p(t) = f(t)(t-t) + r(t) = r(t)$$

او له دې سره $r(x) = 0$ ، ځکه چې $r < 1$ Grad دی.

د پولینوم وېش د لیکنیز وېش سره ورته مخ ته تلی شي.

د بیلګې په توګه د $p(x) = 9x^5 + 12x^4 + 10x^3 + 4x^2 + 4x + 2$

او $q(x) = 3x^2 + 2x + 1$ لپاره لاس ته راځي

$$(9x^5 + 12x^4 + 10x^3 + 4x^2 + 4x + 2) : (3x^2 + 2x + 1) =$$

$$= 3x^3 + 2x^2 + x + \frac{r(x)}{q(x)}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\begin{array}{r} -(9x^5+6x^4+3x^3) \\ 6x^4+7x^3+4x^2 \\ -(6x^4+4x^3+2x^2) \\ 3x^3+2x^2+4x \\ -(3x^3+2x^2+x) \\ 3x+2=r(x) \end{array}$$

نو دی

$$\underbrace{9x^5+12x^4+10x^3+4x^2+4x+2}_{p(x)}=\underbrace{(3x^3+2x^2+x)}_{f(x)}\underbrace{(3x^2+2x+1)}_{q(x)}+\underbrace{(3x+2)}_{r(x)}.$$

د یوه پولینوم صفرځایونه او فاکتوري کول یا په ضریبونو ټوټه کول

یو د $n$ درجې پولینوم $p$ د ځووالي یا تکرار سره ټیک $z_k$ کمپلکس صفرځایونه لري او له دې سره کېدی شي په ورته کرښیزو ضریبونو یا فاکتورونو

$$p(z)=c(z-z_1)\cdots(z-z_n)$$

ولیکل شي د ثابتې $c$ سره.

که $p$ حقیقی یا قبیل وي، نو کمپلکس صفرځایونه په کنجوګیری جوړو $x_k \pm \mathrm{i}y_k$ رامنځ ته کیږي.

یو حقیقي په ضریبونو لیکل یا فاکتوره کول کېدی شي د کرښیزو فاکتورونو ترڅنګ د لاندې مربع فاکتورونه

$$(z-x_k-\mathrm{i}y_k)(z-x_k+\mathrm{i}y_k)=(z-x_k)^2+y_k^2$$

هم ولري.

د دویمې درجې پولینوم صفرځایونو لپاره کیدی د منځشپې یا **ABC فرمول( دا د p,q-فرمول ته روته یا همهغسې دی) و کارول شي** او د دریمې او څلورمې درجې پولینومونه د کاردان فرمولونو Cardanischen Formeln له لارې د اکسپلیځیت الجبری افادو یا ویښو په توګه و ټاکل شی.

د جګو درجو پولینومونو لپاره بیا په ټولیزه توګه نومریکي تلنلارې کارول کیوي. که بیا یو صفرځای معلوم وی، نو کېدی شي د ا ړونده کرښیز فاکتورونې یا ضریبونې له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و وېشل شي.
$q(z)=p(z)/(z-z_1)$ او $z_2,\dots,z_n$ د $n-1$ درجې د پولينوم د د صفرځايونو په توګه وټاکل شي.
د الجبر بنسټيزې جملې په اساس د $1 \geq$ Grad درجې کمپلکس پولينوم يو صفرځای لري . د پرلپسې پولينوموېشنې د صفرځايونو سره
اړونده کرښيز صريبونه يا فاکتورونه له دې سره ضريبونه راکوي.

که $p$ فقط حقيقی صريبونه ولري، نو باور لري

$$\overline{p(z)}=\overline{\sum_{k=0}^{n}p_k z^k}=\sum_{k=0}^{n}p_k\overline{z^k}=\sum_{k=0}^{n}p_k\overline{z}^k=p(\overline{z})$$

يعنې د يوه صفرځای $z_0$ لپاره هم $p(\overline{z_0})=\overline{0}=0$ دی.

د $p(z)=z^3-5z^2+9z-5$

په ضريبونو ليکل يا فاکتوره کول ټاکو. پيژنو، چې $z_1=1$ يو صفرځای دی او يو د پولينوم وېش سره لرو
$p(z)/(z-1)=z^2-4z+5.$

د دې مربع پولينوم صفرځايونه د منځشپې فرمول له مخې دي
$z_{2,3}=2\pm i.$

د دې په تعقيب کمأبکس فاکتورونه لاندې ده

$$p(z)=(z-1)(z-2-i)(z-2+i).$$

حقيقی په ضريبونو ليکنه يا صريبونه د دواړو اخرنې فکتورونو د ټولګې څخه لاس ته راوړو همداسې سيده د مربع تکميلونې له لارې:

$$z^2-4z+5=(z-2)^2+1,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې معنا چې


$$p(z) = (z-1)((z-2)^2+1).$$

ليکونکي: هيوليګ،هيورنر، کنش

د $p(z) = z^n - 1$ صفرځايونه $n$ -م يوونرېښې يا واحدجذرونه دي
$z_k = \exp(2k\pi i/n), k = 0, ..., n-1.$

له دې سره کمپلکس فاکتورونه لاس ته راځي

$$p(z) = \prod_{k=0}^{n-1}(z - \exp(2k\pi i/n)).$$




د کمپلکس کنجر.ګيري صفرځايونو ټولګه يا يوځای کونه حقيقي فاکتوري کونه راکوي.

د جوړه $n$ لپاره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$p(z) = (z-1)(z+1)\prod_{k=1}^{n/2-1}\left(z^2 - 2z\cos(2k\pi/n) + 1\right)$$


او د ناجوړه یا طاق $n$ لپاره

$$p(z) = (z-1)\prod_{k=1}^{(n-1)/2}\left(z^2 - 2z\cos(2k\pi/n) + 1\right).$$

پای.

**د پولینومونو سره انټرپولیشن**

په $n+1$ کي تابع ا رزښتونه $f_k$ جوړه په مختلف تکیه ځایونو $x_0,\ldots,x_n$ کیدی شی یواځني د یوه $\leq n$ Grad درجي پولینوم له لاري انټرپولی شي:




$$p(x_k) = f_k,\quad k = 0,\ldots,n\,.$$

دا انټرپولیشن پولینوم کیدی شي د لاګرانج – بڼه

$$p(x) = \sum_{k=0}^{n} f_k q_k(x),$$

(c) ketabton.com: The Digital Library




$$p(x) = \sum_{k=0}^{n} f_k q_k(x),$$

$$p(x_k) = f_k, \quad k = 0, \ldots, n\,.$$

دا انترپولیشن پولینوم کیدی شي د لاګرانج – بڼه

$$p(x) = \sum_{k=0}^{n} f_k q_k(x), \quad q_k(x) = \prod_{j \neq k} \frac{x - x_j}{x_k - x_j},$$

انځور شي.




پولینوم $q_k$ د لاګرانج-پولینوم بلل کیږي او په ټکي $x_k$ کې ارزښت $1$ لري او په نورو ټولو ټکو $x_j$ کې يې ارزښت صفر دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

$$q_k(x_j) = \delta_{k,j}$$

د کرونیکر-سومبول $\delta$ سره.

## د لاګرانج-پولینوم

$$q_k(x_j) = \delta_{j,k}$$

پوره کوي او له دې سره لاس ته راځي

$$p(x_j) = \sum_k f_k \delta_{j,k} = f_j \,,$$

د انترپولیشن شرایط ټول پوره دي.

د دې لپاره چې یواځنوالی وښایو، چې یو بل انترپولیشنپولینوم $\tilde{p}$ شتون لري، کمښت را اخلو یا تر څېړنې نیسو.

$p - \tilde{p}$ .

دا (لږتر لږه) $n+1$ صفرځاونه لري( د انترپولیشن کېدونکي ځایونه $x_k$ )، مګر (زیات له زیاته ) د $n$ درجو. له دط سره باید کمښت کتمتې وي، نو پولینومونه سره توپیر نخ لري.

لیکونکي: هیولیګ،هیورنر

په اکویدیستانت یا برابرواټنیز تکیه -ځایونو $x_k = kh$ د $f_k$ ارزښتونو توابعو ټیک ګرافیکي انځورونې ته کېدی شي مکعبیز انترپولیشن وکارول شي. له دې سره په تکیه-ځایونو $x_{k+1/2} = (k+1/2)h$ منځ ارزښتونه د

$$f_{k+1/2} = (-f_{k-1} + 9f_k + 9f_{k+1} - f_{k+2})/16$$

له لارې اپروکسیمی شي. دا پروسه تکراریږي، تر هغز چې پوره داتا منځ ته راشي.

د ــټکو -فرمول وزنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





$$-\frac{1}{16},\ \frac{9}{16},\ \frac{9}{16},\ -\frac{1}{16}$$

په تکیه-ځایونو $x_{k+1/2}$ د لاګرانژ-پولینوم ارزښتونه دي.
د بېلګې په بتوګه

$$-\frac{1}{16}=\left(\frac{x-kh}{(k-1)h-kh}\frac{x-(k+1)h}{(k-1)h-(k+1)h}\frac{x-(k+2)h}{(k-1)h-(k+2)h}\right)\Big|_{x=(k+1/2)h}.$$

دی.
د سیمتري په بنسټ او دا چې ضریبونه باید سیمتریک شي( د ثابتو داتا انترپولیشن) ، بې
له شمېرنې نور ضریبونه راکوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيره وتونداتا ښايي او د $4$ -ټکو-انترپوليشن د درې ځله کاروني يا استعمال له لارې د منځ ته ارغلي ساين تابع اپروکسيميشن . په حقيقت کې دا لاندې کيږ ښودل شوی پوله تابع خوی اغيز لري. مګر په هر حالت فقط لومړی مشتق ناپرېکيدونکی دی.




ښی ګرافيک وېشلی کمښت له لارې ورنږدې يا نږدې دويم مشتق د اته واره انترپوليشن پسې ښايي. سړی د ګراف فراکتال fraktalen ( فراکتال: لاتين: مات) خويونه پيژني.

## راشنل ( کسری يا نسبتي ) توابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو رينټونی تابع $r$ د صورت درجې $m$ او مخرج درجې $n$ سره د دوه پولينمونو وېش دی:

$$r(x) = \frac{p(x)}{q(x)} = \frac{a_0 + a_1 x + \cdots + a_m x^m}{b_0 + b_1 x + \cdots + b_n x^n}\,.$$


دا انځوونه نا ټوټه ووني بلل کيږي، که $p$ او $q$ کوم ګډ کربنيز ضريب يا فاکتور ونه لري. د مخرج صفرځايونه راشنل تابع $r$ د تعريف تشځايونه دي او د قطبځايونه بلل کيږي. د دوی نظم د صفرځايونو ډېرځلوالی ښايي.

اووښتوني يا متحولې $x$ او ضريبونه $a_k$, $b_k$ کېدی شي حقيقي يا کمپلکس وي.
اړوند سړی د حقيقي يا کمپلکس راشنل تابع څخه غږيږي.
لليکونکي : اپپ، هيوليګ

تابع

$$f(x) = \frac{x^4}{(x+1)(x-1)^2}$$

تابع يو سادهقطب په $x = -1$ کې لري او ډبل پول په $x = 1$ کې.



(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې له تابع $f$ څخه درک کوي، چې په يوه ساده صفرځای کې مخنخښه بدلوي او په يوه ډبل صفرځای کې مخنخښه تغير نه خوري.


## کمپلکس راشنل- يا کسري توابع

$$r(z) = \frac{z^2}{z^3 - 1}$$

درې صفرځايونه

$$z_1 = 1, z_2 = e^{2\pi i/3} = -\tfrac{1}{2} + \tfrac{\sqrt{3}}{2}i, z_3 = e^{-2\pi i/3} = -\tfrac{1}{2} - \tfrac{\sqrt{3}}{2}i$$

په يوونکردی (واحددايره) لري




ځيره د $r$ د ګراف رييل - او ايماجينار برخه ښايي. له دې سره د رنګوېشنه ( که چېرې رنګه وه) د $r$ د مطلق ارزښت له لارې ټاوکل شوې.

) ليکونکي: اېپ،هيورنر، کنش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټوټه مات ټوټه کونه يا تجزيه کونه **Partialbruchzerlegung**

يو د $m_j$ نظم راشنل تابع $r$ د $n$ مختلفو صفرځايونو $z_j$ سره ،

$$r = \frac{p}{q}, \quad q(z) = (z - z_1)^{m_1} \cdots (z - z_n)^{m_n}$$

کيدی شي په لاندې ټوټه شي

$$r(z) = f(z) + \sum_{j=1}^{n} r_j(z), \quad r_j(z) = \frac{a_{j,1}}{z - z_j} + \ldots + \frac{a_{j,m_j}}{(z - z_j)^{m_j}},$$

دلته $f$ د $d = \text{Grad}\ p - \text{Grad}\ q$ Grad درجې پولينوم دی ( $f = 0$ ، که $d < 0$ وی). راشنل توابع $r_j$ د $r$ په قطبځايونو کې اصلي برخې بلل کيږي. دا د $r(z)$ لوېدنه تشريح کوي د $z \to z_j$ لپاره. پولينوم $f$ کيدی شي د پولينوموېش له لارې وشمېرل شي:

$$p = fq + g, \quad \text{Grad}\ g < \text{Grad}\ q\,.$$

دلته $g$ د $p$ په $q$ باندې وېشنې پاتې يا باقي دی. ضريبونه $a_{j,\nu}$ کيدی شي د $z^k$ د ضريبونو د پرتله کونې له لارې په کټوټوالي

$$p(z) = q(z)\left(f(z) + \sum_{j=1}^{n} r_j(z)\right)$$

وټاکل شي.

د بديل په توګه د اصلي برخو ټاکلو لپاره د پوله ارزښت متود هم کارول کيدی شي.

د قطبونو د خوراځګو ضريبونو لپاره باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a_{j,m_j} = \lim_{z\to z_j} (z-z_j)^{m_j} r(z)\,.$$

د يوه نظم $(m_j > 1)$ قطبخای کې نه شي کېدی ضريبونه $a_{j,1}, \ldots, a_{j,m_j-1}$ سيده د پولې ارزښت په توګه وټاکل شي. سړی کړی شي دا اوس شميرل شوی ترم $a_{j,m_j} / (z-z_j)^{m_j}$ کم کړي او د رکورسيو متود وکاروي.. يو ضريب پرتله کونه د همدا اوس شته ترمونو په پام کې نيولو هم شونې ده.

پوله ارزښت کېدی شي وټاکل شي، داسې چې د $r$ په مخرج کې ضريب $(z-z_j)^{m_j}$ لرې بربښوول شي او بيا $z_j$ په پاتې کسر يا ـمات کې ځا په ځای شي. په ځانګړې توګه باور لري

$$a_{j,1} = \frac{p(z_j)}{\prod_{k\neq j}(z_j - z_k)}$$

د ساده قطب ځايونو $z_1, \ldots, z_n$ لپاره.
ليکونکي : اپ، هيورنر

د ساده قطبځايونو ( $m_j = 1$ ) لپاره به ټوټه کونه منځ ته راشي. د پولينوم وېش پسې راشنل تابع منځ ته راځي

$$r(z) - f(z) = \frac{g(z)}{q(z)} = \frac{g(z)}{(z-z_1)\cdots(z-z_n)},$$

د کوم سره چې پولينوم $g(z)$ او $q(z)$ ګډ پروېشونی يا مقسوم عليه ونه لري، نيسو ، چې ټول $z_j$ مختلف دي، او $\mathrm{Grad}\ g < n$ باور لري.
د ټوټه کسر ټوټه کوني سره د برابر اېښووني وروسته

$$\frac{a_1}{z-z_1} + \cdots + \frac{a_n}{z-z_n}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $a_j = a_{j,1}$ سره او د $q$ د ضربول سره سړی د $g(z)$ د لاګرانژ ـانځورونه لاس ته راوړي

$$g(z)=\sum_{j=1}^{n}\left(a_j\prod_{\substack{k=1\\k\neq j}}^{n}(z-z_k)\right)=\sum_{j=1}^{n}\left[a_j\prod_{\substack{k=1\\k\neq j}}^{n}(z_j-z_k)\right]\underbrace{\prod_{\substack{k=1\\k\neq j}}^{n}\frac{z-z_k}{z_j-z_k}}_{q_j(z)}$$

دا په ې معناچي د $q_j(z_k)=\delta_{j,k}$ له امله په ګوډیزه نوکانو کي د $g(z_j)$ ازښتونه

$$a_j=g(z_j)/\prod_{\substack{k=1\\k\neq j}}^{n}(z_j-z_k).$$

دي. له دې سره لاس ته راځي
په ورته توګه د جګو درجو قطبځایونه هم کار ول کېدی شي. دا مګر تخنیکي لږ پې]لی دی.
لیکونکي : اپ، هیورنر
د

$$r(z)=\frac{p(z)}{q(z)}=\frac{z^3}{z^2+z-2}$$

په ټوټه کسر( مات) ټوټه ونه دې وټاکل شي.
دا چي د صورت درجه د مخرج له درجې کوچنی نه ده، باید لومړی یو پولینوم وېش صورت ونیسي. سړی لاس ته راوړي

$$\begin{aligned}(z^3):(z^2\ +z\ -2)&=z-1+\frac{3z-2}{z^2+z-2},\\ -(\underline{z^3\ \ +z^2\ -2z})&\\ -z^2\ +2z&\\ -(\underline{-z^2\ -z\ \ +2})&\\ 3z\ \ -2&\end{aligned}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې معنا چې $r = f + \frac{g}{q}$ د $f(z) = z - 1, \quad g(z) = 3z - 2.$ سره .

د دې لپاره چې د ټوټه مات ټوټه ونې اینونه چې لاس ته راوړو باید اوس د $r$ قطبځایونه وټاکل شي. د منځشپې فرمول سره لاس ته $z_1 = 1$ او $z_2 = -2$ راوړو د مخرج پلینوم د صفځای په ځېر:

$$q(z) = (z - 1)(z + 2).$$

د $g/q$ ټوټه مات ټوټه ونه له دې سره لاندې بڼه لري

$$\frac{3z - 2}{z^2 + z - 2} = \frac{a_1}{z - 1} + \frac{a_2}{z + 2}.$$

دا اخر پل د ضريبونو $a_k$ ټاکل دي.

د پوله ارزښت متود سره لاس ت ه راځي

$$a_1 = \lim_{z \to 1}(z - 1)\frac{3z - 2}{z^2 + z - 2} = \left.\frac{3z - 2}{z + 2}\right|_{z=1} = \frac{1}{3}$$

$$a_2 = \left.\frac{3z - 2}{z - 1}\right|_{z=-2} = \frac{8}{3}.$$

او

په ټولیزه توګه لاس ته راځي

$$r(z) = z - 1 + \frac{1/3}{z - 1} + \frac{8/3}{z + 2}.$$

پای.

راشنل توابع

$$r(z) = \frac{2z^2 - 5z - 3}{z^3 - 3z^2}$$

په $z_1 = 3$ کې یوه سادهقطبځای لري او په $z_2 = 0.$ کې یو دبل قطبځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د صورت درجه د مخرج له درجې کوچنی ده، پولینوم وېش ته اړتیا نه شته او د په ټوټه کسر ټوټه ونه دا بڼه لري

$$\frac{2z^2-5z-3}{z^3-3z^2}=\frac{a_1}{z^2}+\frac{a_2}{z}+\frac{a_3}{z-3}.$$

د پوله ارزښت متود سره لرو

$$a_1 = \lim_{z\to 0} z^2\frac{2z^2-5z-3}{z^3-3z^2}=\left.\frac{2z^2-5z-3}{z-3}\right|_{z=0}=1$$

$$a_3=\lim_{z\to 3}(z-3)\frac{2z^2-5z-3}{z^3-3z^2}=\left.\frac{2z^2-5z-3}{z^2}\right|_{z=3}=0\,.$$

سرې په ساده ډول کړی شي، چې دا پاتې ( هغه په اصطلاح، چې ورته وایو باقي مانده) ضریبونه $a_2$ په یوه ټکي $z\neq 0,3$ د تابع ارزښتونو د پرتوله کوني له لارې وټاکي.
د بېلګې په توګه د $z=1$ لپاره لرو

$$\frac{2-5-3}{1-3}=1+a_2+0$$

او سرې $a_2=2$ لاس ته راوړي.
لیکونکي: اپ،هیورنر
د راشنل توابعو لپاره

$$r(z)=\frac{z^2-5z+4}{z^3-3z^2+z+5}$$

لپاره قطبځایونه روښانه نه دي. د ازماېښت له لارې $z_1=-1$ پیداکیږي او بیا د پولینوم وېش سره لاس ته راځي

$$(z^3-3z^2+z+5):(z+1)=z^2-4z+5.$$

.

د نیمي شپې فرمول سره د مخرج نور صفرځایونه $q(z)$ لاس ته راځي

$$z_{2,3}=2\pm i.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره ماتلاندې یا مخرج ضریبه ونه یا فاکتوری کونه

$$q(z) = (z+1)(z-2-i)(z-2+i)$$

لري او د ټوټه کسر ټوټه کونه داسې ده

$$\frac{p(z)}{q(z)} = \frac{a}{z+1} + \frac{b}{z-2-i} + \frac{c}{z-2+i}.$$

د دې لپاره چې $a, b, c$ د ضریبونو د پرتلې له لارې وټاکو، د مخرج $q(z)$ سره وېشو او لرو

$$+ 4 = a(z-2-i)(z-2+i) + b(z+1)(z-2+i) + c(z+1)(z-2-i).$$

د $1, z, z^2$ د ضریبونو د پرتله کونې له لارې د درې ناټاکلو یا نامعلومو $a, b$ او $c$ لپاره یو کرښیز مساوات سیتم لاس ته راځي:

| $a$ | $b$ | $c$ | |
|---|---|---|---|
| $1$ | $1$ | $1$ | $1$ |
| $-4$ | $-1+i$ | $-1-i$ | $-5$ |
| $5$ | $-2+i$ | $-2-i$ | $4$ |

د حل په حیث لاس ته $b = i/2$ $a = 1,$ او $c = -i/2$ راځي ، دا په دې معنا ، چې

$$r(z) = \frac{1}{z+1} + \frac{i/2}{z-2-i} + \frac{-i/2}{z-2+i}.$$

که اخري دواړه ترمونه سره یوځای کړو، نو حقیقي ټوټه کسر ټوټه ونه لاس ته راځي

$$r(z) = \frac{1}{z+1} + \frac{1/4}{z^2-4z+5}.$$

## د حقیقي ټوټه کسر ټوټه ونه یا تجزیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو حقیقي ریښتونی یا راشنل تابع $r$ د حقیقي قطبځایونو $x_j$ سره او کمپلکس کنجوګیري قطبځایونو $u_k \pm$ i $v_k$ سره او څو واره والی یا ډېروالی $m_j$ همداسې $n_k$

$$r = \frac{p}{q}, \quad q(x) = \prod_j (x - x_j)^{m_j} \prod_k ((x - u_k)^2 + v_k^2)^{n_k}$$

کیدی شي په لاندې بڼه

$$r(x) = f(x) + \sum_j \sum_{\nu \le m_j} \frac{a_{j,\nu}}{(x - x_j)^\nu} + \sum_k \sum_{\mu \le n_k} \frac{b_{k,\mu}(x - u_k) + c_{k,\mu}}{((x - u_k)^2 + v_k^2)^\mu}$$

ټوټه کیږي، د $d = \text{Grad } p - \text{Grad } q$ درجې ( $f = 0$ ، که $d < 0$ وي)

یوه پولینوم $f$ سره. د په هر قطبځای زیاتونونو یا د جمعې غړو د ګڼون یا تعداد ډېرواره والی په ګوته کوي. په ځانګړې توګه د ساده قطبځای لپاره باور لري

$$r(x) = f(x) + \sum_j \frac{a_j}{x - x_j} + \sum_k \frac{b_k(x - u_k) + c_k}{(x - u_k)^2 + v_k^2}.$$

پولینوم $f$ کیدی شي دپولینوم وېش له لارې وټاکل شي

$$p = fq + g, \quad \text{Grad } g < \text{Grad } q,$$

دا په دې معنا چې $p$ د $q$ وېش په $g$ باندې پاتې یا باقي دی. ضریبونه کیدی شي د مخرج پولینوم سره له ضرب وروسته دضریبونو د پرتلې له لارې وشمېرل شي.
حقیقي ټوټه کسر ټوټه کونه هم کیدی شي د کمپلکس بنې څخه و کټل شي یا لاس ته راوړل شي، داسې چې سړی کمپلکس کنجوګیري ترمونه سره یوځای کاندې.

ټوټه کونه د ساده قطبځایونو ( $m_j = n_k = 1$ ) لپاره سرته رسیږي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $r$ کمپلکس ټوټه کسر ټوټه کونه په دې حالت کې دا لاندې بڼه لري

$$p(x)+\sum_j \frac{a_j}{x-z_j}$$

د $z_j$ سره د مخرج پرلينوم $q$ ساده صفرځايونه او

$$a_j=\lim_{z\to z_j}(z-z_j)r(z).$$

دا $q$ چې حقيقي دی، نو کمپلکس صفرځايونه د کمپلکس کونجرګيري جوړوړپه توګه منځ ته راځي:

$$z_k=u+\mathrm{i}v,\quad z_l=u-\mathrm{i}v=\overline{z_k}.$$

له دې سره د اړونده ترمونو لپاره لاندې ټوټه ونه باور لري

$$\overline{a_k}=\lim_{z\to z_k}\overline{(z-z_k)r(z)}=\lim_{\overline{z}\to z_l}(\overline{z}-z_l)r(\overline{z})=a_l,$$

دا په دې معنا، چې

$$a_k=s+\mathrm{i}t,\quad a_l=s-\mathrm{i}t.$$

د دواړو ترمونو يوځای کونه غوښتونې بڼه راکوي:

$$\frac{s+\mathrm{i}t}{x-u-\mathrm{i}v}+\frac{s-\mathrm{i}t}{x-u+\mathrm{i}v}=\frac{2s(x-u)-2tv}{(x-u)^2+v^2}.$$

د جګو درجو قطبځايونه کيدی شي په ورته توګه تر څېړنې ونيول شي، مګر دليل راوړنه يې په څرګنده توګه پيچلې ده.

د

$$r(x)=\frac{p(x)}{q(x)}=\frac{2x^3-9x^2+11x+1}{x^3-4x^2+5x}$$

حقيقي په ټوټه کسر ټوټه کونې ټاکنه په درې پلونو يا قدمونو وېشل کيږي

(i) دا چې $\mathrm{Grad}\ p\geq \mathrm{Grad}\ q$ دی، لومړی د پلوينوم وېشنه صورت نيسي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیک

$$(2x^3 - 9x^2 + 11x + 1) : (x^3 - 4x^2 + 5x) = 2$$

$$g(x) = -x^2 + x + 1.$$

پاتې

له دې سره لاس ته راځي

$$r(x) = f(x) + \frac{g(x)}{q(x)} = 2 + \frac{-x^2 + x + 1}{x^3 - 4x^2 + 5x}.$$

(ii) د دې لپاره چې د $g/q$ ټوټه وني اېنوونه یا اسعمال پیداکړو، نو قطبځایونه ټاکو یا پیدا کوو.

د $q$ د صفرځایونو $x = 0$ د نوکانو دباندېکونې وروسته د مبع تکمیل له لارې سړی نور دواړه صفرځایونه لاس ته راوړي:

$$x^2 - 4x + 5 = (x-2)^2 + 1^2.$$

دا پاتې صفرځایونه کمپلکس کونجوګیري جوړې $u \pm iv = 2 \pm i$ دي.له دې سره اېنوونه په لاندې توګه ده

$$\frac{-x^2 + x + 1}{x((x-2)^2 + 1^2)} = \frac{a}{x} + \frac{b(x-2) + c}{(x-2)^2 + 1^2}.$$

(iii) د ضریبونو د ټاکنو لپاره د اصلي مخرج $q$ سره ضربیږي او ترې لاس ته راځي

$$-x^2 + x + 1 = a((x-2)^2 + 1^2) + b(x-2)x + cx$$

د $x$, $1$ او $x^2$ ضریبونو پرتله مو کرښیز مساوات سیستم ته بیایي

$$1 = \qquad 5a$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$1 = -4a - 2b + c$$
$$-1 = \qquad a + b$$

د لاندې حل سره

$$a = \frac{1}{5},\ b = -\frac{6}{5},\ c = -\frac{3}{5}\,.$$

له دې سره حقيقي ټوټه کسر ټوټه کونه ده

$$r(x) = \frac{1/5}{x} + \frac{-6/5(x-2) + (-3/5)}{(x-2)^2 + 1^2}.$$

د ټاکلو لپاره پوله ارزښت متودونه هم کارول کيږي. که دا اېښوونه يا ځای په ځای کونه د $x$ سره ضرب شي او $x = 0$ کيږدي، نو لاس ته ترې راځي

$$\frac{1}{2^2 + 1^2} = a + 0 \Longrightarrow a = \frac{1}{5}.$$

د $x = 2$ ځای په ځای کونې سره c لاس ته راځي:

$$\frac{-2^2 + 2 + 1}{2(0^2 + 1^2)} = \frac{1/5}{2} + \frac{c}{0^2 + 1^2} \Longrightarrow c = -\frac{3}{5}.$$

بالاخره کېدی $b$ د ټکی ازماېښت $x \neq 2$ له لارې ، د بېلګې په توګه $x = 1$ منځ ته راشي.
پای.

د

$$r(x) = \frac{p(x)}{q(x)} = \frac{x^3}{x^4 + 2x^2 + 1}$$

حقيقي ټوټه کسر ټوټه کونې ټاکلو په دوه پلونو يا قدمونو کې ترتيبيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(i) د اېښوونې د ټاکلو لومړی قطبځايونه پيدا کيږي. له

$$q(x) = (x^2 + 1)^2$$

پيژندل کيږي، چې $\pm i$ ډبل صفرځايونه دي، دا په دې معنا چې $u = 0$ او $v = 1$ .
له دې سره دا اېښوونه ده

$$\frac{x^3}{(x^2+1)^2} = \frac{b_1 x + c_1}{x^2+1} + \frac{b_2 x + c_2}{(x^2+1)^2}.$$

(ii) د ضريبونو د ټاکلو له امله دا سړی د اصلي مخرج $q$ سره ضربوي او لاس ته
ترې راوړي

$$\begin{aligned} x^3 &= (b_1 x + c_1)(x^2+1) + b_2 x + c_2 \\ &= b_1 x^3 + c_1 x^2 + (b_1 + b_2)x + (c_1 + c_2)1. \end{aligned}$$

د $1, x, x^2$ او $x^3$ د ضريبونو پرتله کونه مو کرښيز سيستم ته بيايي

$$\begin{aligned} 1 &= b_1 \\ 0 &= c_1 \\ 0 &= b_1 + b_2 \\ 0 &= c_1 + c_2 \end{aligned}$$

د لاندې حل سره
$b_1 = 1,\ c_1 = 0,\ b_2 = -1,\ c_2 = 0$ .

بديلې کيدی شي د کمپلکس ټوټوه کسر تۆ کونې ځخه مخ ته لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\frac{z^3}{(z-i)^2(z+i)^2} = \frac{a}{z-i} + \frac{b}{(z-i)^2} + \frac{c}{z+i} + \frac{d}{(z+i)^2}.$$

ضريبونه $c = \overline{a},\ d = \overline{b}$ پوره کوي او د جمعي جوړولو له لارې

$$\frac{a}{z-i} + \frac{c}{z+i},\ \frac{b}{(z-i)^2} + \frac{d}{(z+i)^2}$$

هم حقيقي توټهکسر ټوټه کونه لاس ته راوړي


$$\frac{x^3}{(x^2+1)^2} = \frac{x}{x^2+1} + \frac{-x}{(x^2+1)^2}.$$


## Sinus und Cosinus ساين او کوساين

د

$$(\cos t, \sin t), \quad t \in \mathbb{R}$$

سره په سرچينه په کونج $t$ خرخول شوی ټکی $(1,0)$ کواوردينات نومولکيږي . د تر مخنښي پورې کوساين او ساين په يوه ولاړکوديز برېکوډي ( المثلث القايم الزاويه) کې د ولاړ اړخونو( هغه اضلاع وې چې يو د بل سره قلموازاويه جوړه وي) نسبت د نيمی(قطر) سرره په ګوته کوي.




دواړه ګردی توابع يا د دايرې توابع $2\pi$ - تلبېرته راګرځېدونې يا $2\pi$ - پريوديکي دي او باور لري

$$\cos t = \sin(t + \pi/2)$$

• ,

(c) ketabton.com: The Digital Library



- $\cos t = \cos(-t), \quad \sin t = -\sin(-t)$ ,
- $\sin^2 t + \cos^2 t = 1$ .

يو څو ځانګړي ارزښتونه دي:

| | 0 | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ |
|---|---|---|---|---|---|
| sin | 0 | $\frac{1}{2}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{2}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{3}$ | 1 |
| cos | 1 | $\frac{1}{2}\sqrt{3}$ | $\frac{1}{2}\sqrt{2}$ | $\frac{1}{2}$ | 0 |

## د اويلر-مويورې فرمول **Formel von Euler-Moivre**

يو اکسپوننشل تابع د ايماجينار x -محور سره کېدی شي د $t \in \mathbb{R}$ لپاره د تريګونومتريک( درېګوډي - يا مثلثاتي -) توابع په مرسته افاده شي.

$$\cos t + \mathrm{i} \sin t = \exp(\mathrm{i}t)$$

کوساين او ساين حقيقي – او ايماجينار ګنونه( عددونه) په ګوته کوي د ارزښت $1$ ( $|\exp(\mathrm{i}t)| = 1$ ) سره .

که پورته فرمول اينورتير يا معکوس شي ، نو لاس ته راځي

| | |
|---|---|
| $\cos t$ | $= \mathrm{Re}\, e^{\mathrm{i}t} = \frac{1}{2}\left(e^{\mathrm{i}t} + e^{-\mathrm{i}t}\right)$ |
| $\sin t$ | $= \mathrm{Im}\, e^{\mathrm{i}t} = \frac{1}{2\mathrm{i}}\left(e^{\mathrm{i}t} - e^{-\mathrm{i}t}\right)$ . |

د اکسپ، کوساين او ساين کټمټوالی اويلر او مويورې ته ځي. دا د جيومتريکي کمپلکس عددونو د انترپوليشن لپاره بنسټ جوړوي او د فوری-اناليوز کې غوره رول لوبوي.

ليکونکي: هيوليک، کوپف

## د ساين او کوساين لپاره د زياتون- يا جمع قضيه

(c) ketabton.com: The Digital Library




د گردیتوابعو $\sin t$ او $\cos t$ لپاره لاندي اړیکي باور لري:

- $$\cos(\alpha+\beta)=\cos\alpha\cos\beta-\sin\alpha\sin\beta$$
- $$\sin(\alpha+\beta)=\sin\beta\cos\alpha+\sin\alpha\cos\beta$$

په ځانګړي توګه دی

$$\cos(2\alpha)=\cos^2\alpha-\sin^2\alpha,\qquad \sin(2\alpha)=2\sin\alpha\cos\alpha.$$

## تانجنت او کوتاجنت Tangens und Cotangens




د تانجنت او کوتانجنت توابع د

$$\tan t=\frac{\sin t}{\cos t},\qquad \cot t=\frac{\cos t}{\sin t}$$


له لاري تعريف دي. دا تر دمخنښي پوري د ولاړکوډيز دریکوډي( - - مثلث) د ولاړکوډونو Katheten نسبت ورکوي
یو ځو ځانګړي ارزښتونه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | $0$ | $\frac{\pi}{6}$ | $\frac{\pi}{4}$ | $\frac{\pi}{3}$ | $\frac{\pi}{2}$ |
|---|---|---|---|---|---|
| tan | $0$ | $\frac{1}{3}\sqrt{3}$ | $1$ | $\sqrt{3}$ | nicht def. |
| cot | nicht def. | $\sqrt{3}$ | $1$ | $\frac{1}{3}\sqrt{3}$ | $0$ |

## د ارکوس توابع **Arcusfunktionen**





د درېګوډيز ( ترېګونومتريکي يا مثلثاتي) توابعو په څټ يا معکوس توابع د arccos, arcsin, arctan, arccot سره ښوول کيږي.




د دي تعريف – او ارزښت ورشو د پورته ښېري ښخه رانيول کېدی شي.
له دې سره اصلي ښانګې غوړې يا پنډې کښل شوي دي.
ليکونکي: هيوليک، کنويف، کنش

## هارمونيک لړځيدني يا رپيدني
**Harmonische Schwingung**



(c) ketabton.com: The Digital Library



يو هارمونيکي لړځيدنه د جګوالي Amplitude $c \geq 0$ سرره،د فاز بلځای ته وړنه يا راکښنه $\delta$ او فرکونځ $\omega$ همداسې پريودېوالی يا تل (بيرته) راګرځيدنه $T = 2\pi/\omega$ لاندې بڼه لري

$$x(t) = c\cos(\omega t - \delta)\ .$$

ورته يا برابر ارزښته انځورونه ده

$$\operatorname{Re} c \exp(\mathrm{i}(\omega t - \delta))$$

يا

$$a\cos(\omega t) + b\sin(\omega t)$$

د $a = c\cos(\delta), b = c\sin(\delta)$ سره ، دا په دې معنا چې $(c, \delta)$ د $(a, b)$ قطبي کواوردیناتونه دي.
پای.

د پارمتر شميربدلون د جمعي تيورم څخه لاس ته راځ:

$$c\cos(\omega t - \delta) = c\left(\cos(\omega t)\cos(\delta) + \sin(\omega t)\sin\delta\right) \quad \Rightarrow$$

$$\Rightarrow \quad a = c\cos\delta, \quad b = c\sin\delta.$$

برعکس دی

$$c = \sqrt{a^2 + b^2}, \quad \delta = \arctan(b/a) + \varphi$$

د لاندې سره

$$\varphi = \begin{cases} 0, & \text{für } a \geq 0 \\ \pi, & \text{für } a < 0 \text{ und } b \geq 0 \\ -\pi & \text{sonst.} \end{cases}$$

پای.

## د هارموني رپيدنې يو پر بل پرېوتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library






د دوه هارموني رپېدنو يو پر بل پربوتنه ( په ځېره کې غوړ کښل شوي دي)

$$x_k(t) = c_k \cos(\omega t - \delta_k), \quad k = 1, 2 ,$$

د

امپليتودې سره هارمونيک دي

$$c = \sqrt{c_1^2 + 2\cos(\delta_1 - \delta_2)c_1 c_2 + c_2^2} \; .$$




ليکونکي: هيوليک، کوپف،کنش

د يو پر بل پرېوتني کمپلکس بڼه

$$\mathrm{Re}\left(c_1 e^{\mathrm{i}\omega t - \delta_1} + c_2 e^{\mathrm{i}\omega t - \delta_2}\right) = \mathrm{Re}\left([c_1 e^{-\mathrm{i}\delta_1} + c_2 e^{-\mathrm{i}\delta_2}]e^{\mathrm{i}\omega t}\right)$$

راکوي

$$[\ldots] = ce^{-\mathrm{i}\delta} = z$$

او له دې سره

$$c^2 = z\bar{z} = \left(c_1 e^{-\mathrm{i}\delta_1} + c_2 e^{-\mathrm{i}\delta_2}\right)\left(c_1 e^{\mathrm{i}\delta_1} + c_2 e^{\mathrm{i}\delta_2}\right) \; .$$

$$e^{\mathrm{i}s} + e^{-\mathrm{i}s} = 2\cos s$$

د په پام کې نيولو سره ضربونه  غوښتنه راکوي..

په بديله ت وګه کېدی شي امپليتود انځوروني

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$x_k(t) = a_k \cos(\omega t) + b_k \sin(\omega t)$$

څخه وشمېرل شي. سړی لاس ته راوړي

$$c = \sqrt{(a_1 + a_2)^2 + (b_1 + b_2)^2}\ .$$

ليکونکي: هيوليګ، کوپف

په درځ يا متړه باندې کړولو هارموني لړځېدنه يو په بل پرېوځي

$$\cos(\omega t - \delta_k), \quad \delta_k = k\delta,\ k = 0, \ldots, n,$$

د برابر يا همغه فرکونځ او امپليتود. لړځېدنه د کمپلکس انځوروني په مرسته د دې لاندې حقيقي برخې په حيث لاس ته راځي

$$e^{\mathrm{i}\omega t} + e^{\mathrm{i}(\omega t - \delta)} + \ldots + e^{\mathrm{i}(\omega t - n\delta)} = e^{\mathrm{i}\omega t}\frac{1 - (e^{-\mathrm{i}\delta})^{n+1}}{1 - e^{-\mathrm{i}\delta}}$$

$$= e^{\mathrm{i}\omega t}\frac{e^{-\mathrm{i}\frac{n+1}{2}\delta}(2\mathrm{i}\sin\frac{n+1}{2}\delta)}{e^{-\mathrm{i}\frac{\delta}{2}}(2\mathrm{i}\sin\frac{\delta}{2})} = \left(\frac{\sin\frac{n+1}{2}\delta}{\sin\frac{\delta}{2}}\right) e^{\mathrm{i}(\omega t - \frac{n}{2}\delta)}\ .$$

يو په بل پرېوتنه لاندې امپليتود لري

$$\frac{\sin\frac{n+1}{2}\delta}{\sin\frac{\delta}{2}}$$

او فاز $(n/2)\delta$ .

د $\omega = 0$ سره د ايماجيناربرخې د پرتله کوني له لارې تريګونمتريکی کتمتوالی راکوي.

$$\sin\delta + \ldots + \sin n\delta = \frac{\sin\frac{n+1}{2}\delta\sin\frac{n}{2}\delta}{\sin\frac{\delta}{2}}\ .$$

ليکونکي: هيوليګ، کوپف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه لړځېدنو $c_k e^{i\omega_k t}$ یو پر بل پرېوتنه کېدی شي د


$$c(t)e^{i\bar{\omega}t}, \quad c(t) = c_1 e^{-i\Delta\omega t} + c_2 e^{i\Delta\omega t},$$

په ضرب د $\bar{\omega} = (\omega_1 + \omega_2)/2$ او $\Delta\omega = (\omega_1 - \omega_2)/2$ سره ولیکل شي.
لاس ته راغلی داسې په نامه مودولیري رېپدنه تیک هلته پریودیکي ده، که د فرکونځ نسبت $\omega_1/\omega_2$ راشنل وي.
د مودولي شوی کمپلکس امپلیتود مینیمال او ماکسیمال ارزښت همداسې مطلق ارزښت د $|c_1 - c_2|$ همداسې $c_1 + c_2$ ترمنځ لوړ ټیټ کیږي. په ځانګړې توګه دی

$$c(t) = 2c\cos(\Delta\omega t)$$

د همغې یا برابرې امپلیتود $c = c_1 = c_2$ لپاره.
لاندې څیرې یو څو بېپیکي حالتونه په ګوته کوي

- periodische Überlagerungپریودیکي یو پر بل پرېوتنه




$\cos t + \frac{1}{2}\cos 3t$


- برابر امپلیتود $c_k$ او $\omega_1 \approx \omega_2$

(c) ketabton.com: The Digital Library






- aperiodische Überlagerung اپریودیکي یا نه - یو پر بل پربوتنه




پاي.


د سطي لړځېدنو یو پر بل پربوتنې د لړځېدنو مختالف لورو $(a_1, a_2)$ او $(b_1, b_2)$ کږې یا منحني

$$\begin{pmatrix} x(t) \\ y(t) \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} a_1 \\ a_2 \end{pmatrix} \cos(\omega_1 t - \delta_1) + \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \end{pmatrix} \cos(\omega_2 t - \delta_2)\,,$$

لاس ته راځي چې د مخترع Lissajous-Figuren لیساجوس ـځیرې بللکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







خبره د پارامتر يوه بيلګه بښايي

$$\begin{pmatrix} 3 \\ 0 \end{pmatrix}, \qquad \omega_1 = 1\,, \quad \delta_1 = 0\,, \quad \begin{pmatrix} b_1 \\ b_2 \end{pmatrix} = \begin{pmatrix} 0 \\ 4 \end{pmatrix}, \quad \omega_2 = 4\,, \quad \delta_2 = \frac{\pi}{3}\,.$$

پای.

## اکسپوننشل توابع
## **Exponentialfunktion**




توان تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$y = e^x = \exp(x)$$

$x \in \mathbb{R}$

د اویلر عدد $e = 2.71828...$ سره اکسپوننشل تابع بلل کیږي. دا د ټول لپاره مثبت ده او د تابع مساوات پوره کوي
$e^{x+y} = e^x e^y$ .

$e^{-x} = 1/e^x$
په ځانګړې توګه

## ګټه یا ربح Verzinsung

یوبیل بډایې د – وارهد اخستني همداسي او ورکوني وروسته د یوې ګټوې Rate $r$ ( $r < 0$ همداسي $r > 0$ ) د یوې ګټونې فاکتور $(1+p)$ سره لاندې پای بډایې ورکوي

$$y = (1+p)^n x + \frac{(1+p)^n - 1}{p} r \, .$$

دلته $p = 1$ د $100\%$ یو ګټه اینسوونه ده په کلنۍ ګټه ا چونې سره.

فعاله کلنۍ ګټه د میاشتنۍ ګټونې ځخه شمېرل کیږي د یوه ګټې اینسونې $p_m$ سره و لاندې ته

$$p_j = (1+p_m)^{12} - 1 \geq 12 p_m \, .$$

لیکونکي: هیولیګ، هیورنر

بنسټ بډایې په همدې لومړني ګټونې پریود کې په پام کې نیول کیږي، اخستنه ههمداسي اچونه لومړی د ورپسې کال. په لاندې توګه یا د اسې راکوي

$$n = 1: \quad y = x(1+p) + r,$$
$$n = 2: \quad y = \big(x(1+p) + r\big)(1+p) + r.$$

په ټولېزه توګه باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$y = \quad (\cdots(x(1+p)+r)(1+p)+r)\cdots)$$
$$= x(1+p)^n + \left[1+(1+p)+(1+p)^2+\cdots+(1+p)^{n-1}\right]r$$

دا په ګوډیزو نوکانو کې افاده کېدی شي په هندسي جمعه فرمول واړوي او سړی دا ورکړ شوی فرمول لاس ته راوړي.
پای.

د منهتان خرڅول 1626زک مورګن( د ځمکي د کچوني یوون یا واحد دی) 11000 Morgen د یوه حاضر قیمت په رانیولو ګټور تمام شو، ځکه چې په کلنی7 په سلو کې ګټه دا بډایي په کال 2000 زک کې

$$y = 60\,\mathrm{NLG}\cdot(1.07)^{374} = 5.857\cdot10^{12}\,\mathrm{NLG}\ (\triangleq 2.658\cdot10^{12}\,\mathrm{EUR})$$

ده( که متمأن بانکونه او د اسعارو رفورم له مخه نه وي نیول شوی یا فرض شوی).
په میاشتنی ګټه لرو

$$y = 60\,\mathrm{NLG}\cdot(1+7/1200)^{4488} = 13.030\cdot10^{12}\,\mathrm{NLG}\ (\triangleq 5.913\cdot10^{12}\,\mathrm{EUR})$$

او

$$y = 60\,\mathrm{NLG}\cdot\exp(0.07\cdot374) = 14.060\cdot10^{12}\,\mathrm{NLG}\ (\triangleq 6.380\cdot10^{12}\,\mathrm{EUR})$$

د ټولیزې ګټوني سره.
که مورګن د 0.81 Ha هکتارسره وشمېرل شي، نو د منهتان دا ننني سطحه د89 مربعکیلو متره ورکوي. یو کور هلته نن نږدې6500 USD/Quadratmeter امریکایي ډالر په مربع متر ارزښت لري. دا پیسې به د یوه کور تعمیرلپاره چې څلور پوړیز وي ورسیږي، چې په ټوله سطحه ونیسي.
پای.

د یوه $x = 200000$ یوروپور ، $n = 30$ کلونو لپاره او یوې کره شوې ګټې پېنې $p = 5$
په سلو کې میاشتنی ګټه لاندې ده

$$p_m = (1+p)^{1/12} - 1 = 0.4074\%$$


(c) ketabton.com: The Digital Library



او میاشتنی رات یا کټه ده

$$r = \frac{p_m(1+p)^n}{(1+p)^n-1}x = 1060.11\,\mathrm{EUR}.$$

د لاندې پسې تړلي له کټې فرمول ځخه د صفراینوونې له لارې د پور ارزښت راکوي او د $(1+p_m)^{12} = 1+p$ په پام کې نیولو سره .
توله تادیه $30 \cdot 12r = 381639.60$ یورو د پور جمعې ځخه د په $90.8$ په سلو کې اوړي(د بانک مزدوري پرې زیاته).




پروت: کټونه یا د کټې پینه ، ولاړ: میاشتنی کټه
ګراف میاشتنی کټه ښایي د یوه 200 000 یورو پور لپاره د کټې پینې د ضریب په څېر د مختلفو وختونو لپاره.
پای.

کلنې د پیسو ورکونه $z = 10000$ یورو د یوې $7$ په سلو کې کټونې ته د $n = 12$ کلونو وروسته یوه ادا لاندې بدایي ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library




$$y = \frac{(1+p_j)^n - 1}{p_j} z = \frac{1.07^{12} - 1}{0.07} 10000\,\mathrm{EUR} = 178884.51\,\mathrm{EUR}.$$

د نور لس کاله د ژوند انتظار ته  دا د لاندې  يوه مياشتني تقاوت ته بسيا کوي

$$r = \frac{p_m (1+p_j)^{10}}{(1+p_j)^{10} - 1} y = \frac{0.005654 \cdot 1.07^{10}}{1.07^{10} - 1} 178884.51\,\mathrm{EUR} = 2057.17\,\mathrm{EUR},$$

چې د هيپوتيکې( د کورونو جوړولو او اخستلو لپاره  ارزانه پور دی)  Hypotheken گټې ته ورته شمېرل کيږي.




پروت: وخت ،    ولاړ: پای  سرمايه
خېره  د مختلفو گټونو لپاره د يوې سرمايې وده ښايي د وخت  تېرېدو سره .
پای.


## لوگاريتم **Logarithmus**

د لوگارتم تابع د اکسپوننشلتابع معکوس دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$y = e^x \quad \Leftrightarrow \quad x = \ln y.$$




دا $(0,\infty)$ کره مونوتونن جګېدونکی په $\mathbb{R}$ تنظیموي او لاندې تابعمساوات پوره کوي

$$\ln(xy) = \ln x + \ln y.$$

په ځانګړې توګه دی $\ln(1/x) = -\ln x$ .
پای.

د یوې مادې راديواکتيو له منځه تلنه( په زراتو تجزيه کېدنه) د زره کيدنې قانون

$$N(t) = N(0)e^{-kt}$$

له مخې تشريح کيږي. دلته $N(t)$ د ا تمونو ګڼون يا تعداد دی د $t$ په وخت کې او $k > 0$ يوه د موادو په واک کې د زره کېدو ثابته ده.

د نيم ارزښت وخت $T$ داسې تعريف دی $N(T) = \frac{1}{2}N(0)$ ، داپه دې معنا چې

$$e^{-kT} = \frac{1}{2} \Leftrightarrow T = \ln 2/k.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چرنوبل د ریکتور د ډز یا الوتني سره یو ه ډینگری یا خولي یا مرخېړی په ځنو برخو کيCäsium-137 د 2000Bq/kg (Bq/kg د رادیواکتیویتی د فعالیت د کچوني لپاره یوون دی) سره د نیمارزښت وخت 29.7 کلونو په وړانگو خور شو.

$$k = \frac{\ln 2}{29.7} = 0.023$$

او له دي سره

$$N(t) = 2000 \exp(-0.023t).$$

په المان کي پوله ارزښت .600Bq/kg کي پروت د ی. د

$$600 = 2000 \exp(-0.023t) \Rightarrow -0.023t = \ln(0.3) \Rightarrow t \approx 52$$

له امله داپوله ارزښت د ورکړشوو ارزښتونو لپاره ۵۲ کالو وروسته کښته – یا کمیږي.

نیم وخت ارزښت :

| | |
|---|---|
| Cäsium-134 | 2 Tage |
| Cäsium-137 | 29.7 Jahre |
| Jod-131 | 8 Tage |
| Kohlenstoff-14 | 5730 Jahre |
| Kalium-40 | 1.2 Mrd. Jahre |
| Plutonium-239 | 24000 Jahre |
| Radon-222 | 3.8 Tage |
| Radium-226 | 1600 Jahre |
| Strontium-90 | 28 Jahre |
| Uran-235 | 800 Mio. Jahre |
| Uran-238 | 4.5 Mrd. Jahre |

پای.


(c) ketabton.com: The Digital Library



لوګاريتم دا خوی لري، چې د دوه ګڼونو يا عددونود لوګاريتمونو جمعه د دې د دې دوه عددونو د ضرب د لوګاريتم سره برابر دی:

$$\log x + \log y = \log(xy).$$

په دې توګه کېدی شي چې دوه کرښي(خط کشونه) د لوګاريتم کچوونو سره يو په بل کيږدي او لاس ته راوړنه د دېعددونو جمعه نه بلکه ضرب دی.( د شمېرکښوونې ( چې يوې او بلې لورته کښيږي) اصول)




د پورته څېرې څخه د بېلګې په توګه ګورو چې $3.5 \cdot 2 = 7$ دی. د لته د پورته کچوونې ۱ د لاندې سکالا په3.5 ( لومړی ضريب) کېښول کيږي. بالاخره ۲ د پورته سکالا ( دويم ضريب) د ضرب لاس ته راوړنه په لاندې سکالا لوستل کيږي.

پای.

## تولیز توان توابع او لوګاريتم

د $a > 0$ لپاره تعريفوو

$$y = a^x = \exp(x \ln a)$$


(c) ketabton.com: The Digital Library




د معکوس يا په خټ تابع سره

$$x = \log_a y, \quad y > 0.$$

په ځانګړې توګه سرې ليکي $\log = \log_{10}$ د لوګاريتم لپاره د $10$ بنسټ سره او $\mathrm{ld} = \log_2$ د دوال لوګاريتم لپاره.




$f(x) = \mathrm{ld}(x)$




$f(x) = 2^x$

## د ودې قانون

$$y = a^x, \quad a > 0$$

کيدی شي نيم لوګاريتمي دکښل شي. دلته په يوه محور $x$ او په بل محور $\log y$ ليکل کيږي. د $x$ او $\log y$ ترمنځ نسبت د ودې قانون له مخې کرښيز دی او رسم شوې کرښه لاندې جګړ.الی لري

$$m = \log a.$$

يو بل امکان دادی، چې په دواړو محورونو يو لوګاريتمي سکالا وکاروو.
دا د بېلګې په توګه د ناتيکاوي ارزښت لپاره

$$\varepsilon \approx cn^{-k}$$


مناسب ده. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\log \varepsilon = \log c - k \log n \,,$$

د کرږې کمیز یا منفي چګېدنه ورکوي.




$$y = 2^x, 10^x, 0.1^x \qquad \varepsilon = 10n^{-1}, n^{-2}, 100n^{-4}$$

د توان او لوګاریتم لپاره شمیرقوانین

**Rechenregeln für Potenzen und Logarithmen**

د اکسپوننشل – او لوګاریتمي توابعو د تعریف او تابع مساواتو څخه لرو

$$\begin{aligned} a^{s+t} &= a^s\, a^t, & \log_a x + \log_a y &= \log_a(xy), \\ a^{s-t} &= a^s/a^t, & \log_a x - \log_a y &= \log_a(x/y), \\ (a^s)^t &= a^{st} & \log_a x^t &= t \log_a x \,. \end{aligned}$$

برسېره پردې د دوه مختلفو بنسټونو ت رمنځ  د شمېربدلون لپاره باور لري

$$\log_b x = \log_b a \; \log_a x \,.$$

په ځانګړې توګه دی

$$\log x = (\log e) \ln x \,.$$

لیکونکي: هیولیګ، کنوپف

که کیږدو

$$x = a^s, \quad y = a^t,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د توان او لوګاریتم د فرمولونو ورته وال یا برابرارزښتوالی روښانه دی. لومړي دواړه کتمتوالي د تابع مساواتو څخه لاس ته راځي او دریم له تعریف $b^r = e^{r\ln b}$ څخه.:

$$(a^s)^t = (e^{s\ln a})^t = e^{st\ln a} = a^{st}.$$

د شمیبدلون فرمول برابرارزښت دی و لاندې ته

$$x = b^{\log_b a \log_a x},$$

او د ساده ونې له لارې ښی اړخ لاس ته راځي.
لیکونکي: هیولیګ، کنوپف

لاندې دواړه بېلط دشمېقوانین تشریح کوي یا په ګوته کوي.

(i)

$${}^2) - 2\ln(2) = \ln(2^2) + \ln(x^2) - 2\ln 2 = 2\ln 2 + 2\ln x - 2\ln 2 = 2\ln x$$

(ii)

$$\log_4(x^2) + \text{ld}(2x) = 2\frac{\ln x}{\ln 4} + 1 + \frac{\ln x}{\ln 2} = 1 + \frac{\ln x}{\ln 2} + \frac{\ln x}{\ln 2} = 1 + 2\frac{\ln x}{\ln 2}$$

## های پرابول تابع **Hyperbelfunktionen**

تریګونومتریکي توابعو ته ورته تعریفوو


$$\cosh x = \frac{e^x + e^{-x}}{2}, \quad \sinh x = \frac{e^x - e^{-x}}{2}$$

همداسې


$$\tanh x = \frac{\sinh x}{\cosh x} = 1/\coth x.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library






$\sinh x$, $\cosh x$





$\tanh x$, $\coth x$

معکوس يا په خټ توابع اکسپليثيت يا په روښانه توګه ورکول کيږي:

$$\begin{aligned} \operatorname{arsinh} x &= \ln(x + \sqrt{x^2 + 1}), & -\infty < x < \infty \\ \operatorname{arcosh} x &= \ln(x + \sqrt{x^2 - 1}), & 1 \le x < \infty. \end{aligned}$$

د هايپربول تابع نوم د لاندې کټمټوالي څخه رانيول شوی




$$\cosh^2 x - \sinh^2 x = 1$$

دا روښانه کوي، چې د $t \mapsto (\cosh t, \sinh t)$ له لارې د هايرابول يو بناخ پارامتري کيږي..

له $y = (e^x - e^{-x})/2$ څخه د $e^x$ سره ضرب له لارې لاس ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$(e^x)^2 - 2ye^x - 1 = 0$$

او له دې سره

$$e^x = y + \sqrt{y^2 + 1}.$$

د مربع مساوات دويم حل د $e^x > 0$ له امله بايد په پام کې ونه نيول شي. د لوګاريتمي کوني څخه لاس ته راځي

$$\operatorname{arsinh} x = \ln(x + \sqrt{x^2 + 1}).$$

د کوساين هوپربوليک د فرمول څخه پورته ته په ورته توګه لاس تره اځي

$$(e^x)^2 - 2ye^x + 1 = 0$$

او له دې سره

$$e^x = y + \sqrt{y^2 - 1}.$$


د لوګاريتم کوني له لارې د په ښت- يا معکوس تابع فرمول لاس ته راځي.
ليکونکي: هيوليک، کنويف

د يوه هايپارابول په پای ټکو کلک شوي سيم ځګوالی $h$ د خپل وزن له لارې اغيزمنشوی دننی شپانونګ $a$ دی

$$h(x) = a\cosh(x/a).$$

تابع $h$ د لاندې دفرنځيال مساوات حل دی.

$$h'' = \frac{1}{a}\sqrt{1 + (h')^2}.$$




## هايپارابوليکی کتمتوتوالی

**Hyperbolische Identitäten**

تريګونومتريکي توابعو ته ورته کتمتوالی باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$
\begin{aligned}
\sinh(-x) &= -\sinh x \\
\cosh(-x) &= \cosh x \\
\sinh(x+y) &= \sinh x \cosh y + \cosh x \sinh y \\
\cosh(x+y) &= \cosh x \cosh y + \sinh x \sinh y \\
\cosh^2 x - \sinh^2 x &= 1\,,
\end{aligned}
$$

چې د تعریفونوو له لارې  کېدی شي نازک شي

## د یوې پرلپسي (ترادف)پوله ارزښت
## Grenzwert einer Folge

**یوه پرلپسي**

$(a_n) = a_1, a_2, \ldots$


د یوه پوله ارزښت $a$
په لور هخیږي،

$a = \lim_{n\to\infty} a_n,$

که هر $\varepsilon > 0$ ته یو
$n_\varepsilon$
داسي شتون
ولري د

$|a_n - a| < \varepsilon$

$n > n_\varepsilon$
سره د ټولو
لپاره




دا $a_n \to a$ لیکدود هم  د یوې پرلپسي د کونورګنت یا پولي ته تلو لپاره کارول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که $(a_n)$ پوله ارزښت ونه لري، نو پرلپسې دیورګنت یا پولې ته نه تلونکې بللکیږي.

پای.

د دې لپاره چې د کونورګنت-قضیه وښایو یعنې $|a_n - a| < \varepsilon$ د $n > n_\varepsilon$ لپاره

وښایو، کیدی شي لومړی دا افاده $|a_n - a|$ د تخمین کونې له لارې پورته لور ته ساده کړو او بیا داسې په نامه نامساوات د $n$ پسې حل کړو.

که دا د بیلګې په توګه د لاندې پرلپسې لپاره وکارول شي

$$a_n = \frac{n^2+n}{n^2+1},$$

کومه چې پوله ارزښت $a = 1$ لري، یو ممکنه تخمین دی

$$|a_n - a| = \left|\frac{n^2+n}{n^2+1} - 1\right| = \left|\frac{n-1}{n^2+1}\right| \le \frac{n}{n^2+1},$$

دا چې $|n-1| \le n$ د ټولو $n \ge 0$ لپاره . پرته له دې $n^2+1 > n^2$ دی او له دې سره $\frac{1}{n^2+1} < \frac{1}{n^2}$ هم . نو له دې لاس ته راځي

$$|a_n - a| \le \frac{n}{n^2+1} \le \frac{n}{n^2} = \frac{1}{n}.$$

له دې سره $\frac{1}{n} < \varepsilon$ دی، باید $n > \frac{1}{\varepsilon}$ وي. که $n_\varepsilon$ یو طبیعي عدد چې له $\frac{1}{\varepsilon}$ لوی وي ، وټاکو ، نو د ټولو $\varepsilon > 0$ او ټولو $n > n_\varepsilon$ لپاره باور لري.

$$|a_n - a| < \frac{1}{n} < \varepsilon.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرلپسي
$1, q, q^2, \ldots$

د $|q| < 1$ لپاره یو پوله ارزښت 0 لري او د $|q| > 1$ یا $q = -1$ لپاره دیورګنت دی

د پرلپسیو د پوله ارزښت شمیرنې لارې
**Rechenregeln für Grenzwerte bei Folgen**

د پولې ته تلونکې پرلپسي $(a_n)$ او $(b_n)$ لپاره د پولو $a$ او $b$ سره باور لري:

- $\lim_{n\to\infty}(a_n \pm b_n) = a \pm b$
- $\lim_{n\to\infty}(a_n b_n) = ab$
- $\lim_{n\to\infty}(a_n / b_n) = a/b$, falls $b \neq 0$
- لیکونکی: اپپ، هیولیګ

زیاتون او کمښت یا کمون : د درېګوډي نابرابرون څخه لاس ته راځي
$|(a_n \pm b_n) - (a \pm b)| \leq |a_n - a| + |b_n - b| \to 0.$

ضرب یا څل: دا چې $a_n$ محدود ده، لرو

$$|a_n b_n - ab| = |a_n b_n - a_n b + a_n b - ab| \leq |a_n||b_n - b| + |b||a_n - a| \to 0.$$

وېش: د ټول $n > n_0$ لپاره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$0 \notin \left(b - \frac{|b|}{2}, b + \frac{|b|}{2}\right) \ni b_n \,,$$

او له دې لاس ته راځي

$$\left|\frac{1}{b_n} - \frac{1}{b}\right| = \left|\frac{b - b_n}{bb_n}\right| \leq \text{const} \; |b_n - b| \to 0,$$

دا په دې معنا چې $1/b_n \to 1/b$. د $a_n/b_n$ پولې ته تلنه دهمدا اوس ښوول شوي د پولې ته تلونکو پرلپسیو ضرب قانون څخه لاس ته راځي.

پای.

که دپرلپسیو توکي د $n$ راشنل تابع وي، $a_n = \frac{p(n)}{q(n)}$، نو کیدی شي پوله ارزښت د خورا جګ توان د لنډوني څخه پیداکړی شو. د بیلګې په توګه دی

$$\lim_{n\to\infty} \frac{n - 2n^2}{3n^2 + 4n} = \lim_{n\to\infty} \frac{1/n - 2}{3 + 4/n} = -\frac{2}{3} \,.$$

په ټولیزه توګه د صورت-درجې $j$ او مخرج-درجې $k$ لپاره باور لري

$$\lim_{n\to\infty} \frac{p_j n^j + \cdots p_0}{q_k n^k + \cdots q_0} = \begin{cases} 0, & \text{für } j < k \\ \frac{p_j}{q_k}, & \text{für } j = k. \end{cases}$$

د $j > k$ لپاره پرلپسې پولې ته نه ځي یعنې دیورګنت ده.

پای.

دمعلومو پوله ارزښتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)^n = e, \quad \lim_{n\to\infty}\left(1-\frac{1}{n}\right)^n = \frac{1}{e}$$

په مرسته لاس ته راځي

$$\lim_{n\to\infty}\frac{(n^2-1)^n}{n^{2n}} = \lim_{n\to\infty}\left(\frac{n^2-1}{n^2}\right)^n = \lim_{n\to\infty}\left(\frac{n+1}{n}\right)^n\left(\frac{n-1}{n}\right)^n$$

$$= \lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)^n \lim_{n\to\infty}\left(1-\frac{1}{n}\right)^n = e\cdot\frac{1}{e} = 1.$$

په پام کې نيسو، چې

$$\lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)^n \neq \left(\lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)\right)^n = 1\ ,$$

ځکه چې د ضرب د ضريبونو ګڼون يا تعداد ثابت نه دی.

ليکونکی: هيوليک، کرايڅ

## د کوشي قضيه Cauchy-Kriterium

يوه پرلپسې $(a_n)$ تيک هلته پولې ته ځي، که د ټولو $\varepsilon > 0$ لپاره يو $n_\varepsilon$ شتون ولري، داسې چې

$$|a_j - a_k| < \varepsilon$$

د ټول $j,k > n_\varepsilon$ لپاره باور ولري.

د کوشي په نوم نومول شوي قضيې په مرسته د پوله ارزښت ثبوت بې د پوله ارزښت پيژندلو ممکن دی.

ليکونکی: اپپ، هيوليګ

د کوشي – قضيې اړينوالی د پوله ارزښت له تعزيف څخه لاس ته راځي:

$$a = \lim a_n \iff |a_m - a| < \varepsilon \quad \text{für} \quad m > m_\varepsilon$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کيږدو $n_\varepsilon = m_{\varepsilon/2}$ ، نو لرو

$$|a_j - a_k| \le |a_j - a| + |a - a_k| < \varepsilon/2 + \varepsilon/2 = \varepsilon$$

د ټول $j, k > n_\varepsilon$ لپاره، حه چي د ښوولو وو.

دا چې شرط پوره کېدونکی هم دی، ستونځمن دی چې و يې ښايو، او دا د حقيقی عددونو په پوره والي ولاړ دی.

پای.

يوه رکورزيو تعرف شوې پرلپسې $(a_n)$ کېدی شي زيات وخت د کوشي-قضيه د تخمينونې له لارې

$$|a_{n+1} - a_n| \le cq^n$$

د $q \in [0, 1)$ سره يې ټيکوالی و ازمايل شي. داسې د هندسي پولې ته تلنه د $j < k$ لپاره راکوي

$$|a_j - a_k| \le |a_j - a_{j+1}| + |a_{j+1} - a_{j+2}| + \quad \dots \quad + |a_{k-1} - a_k| \le cq^j \left(1 + q + q^2 + \dots\right) \le \frac{cq^j}{1-q}.$$

ښی اړخ د $< \varepsilon$ لپاره ده د $j, k > n_\varepsilon = \ln \frac{\varepsilon(1-q)}{c} / \ln q$ لپاره ، نو د کوشي قضيه پوره ده. د ځرګند، د

$$a_n = \sqrt{2 + a_{n-1}}, \quad a_0 = 1,$$

له لارې رکورزيو تعريف شوې پرلپسې $a_n$ د کونورګنځ قضيې د ثبوت لپاره استعمالوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایندکشن پیل : $(n = 1)$ : نامساوات

$$|a_1 - a_0| \leq cq$$

باور لري، که $c = |a_1 - a_0|/q$ کېښول شي.

د ایندکشن پای $(n \to n+1)$ : شړی اټکل شوی کمښت یا تفریق د

$$|a_{n+1} - a_n| = |\sqrt{2 + a_n} - \sqrt{2 + a_{n-1}}| = \left|\frac{a_n - a_{n-1}}{\sqrt{2 + a_n} + \sqrt{2 + a_{n-1}}}\right|.$$

په بڼه ښيي.

د اندکشن د نیونې له مخې ښی اړخ $\leq \frac{1}{2\sqrt{2}} cq^n$ دی او د ټاکنې سره
$q = 1/2\sqrt{2} \leq cq^{n+1}$

لکه چې غوښتل مو.


پای.

## یو غبرېزه پولې ته تلنه Monotone Konvergenz

یو پرلپسي $(a_n)$ همغږیز جګېدونکي $a_{n+1} \geq a_n$ همداسي همغږیز تیټېدونکي $a_{n+1} \leq a_n$ بلل کیږي ، که همداسي وي د ټولو $n$ لپاره. دا کره همغږیز جګېدونکي همداسي کره همغږیز تیټېدونکي بلل کیږي ، که $a_{n+1} > a_n$ همداسي $a_{n+1} < a_n$ وي د ټولو $n$ لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library






یوه رابنده یا محدوده ، د $n > n_0$ لپاره همغږیز جګېدونکي یا ټیټېدونکي پرلپسې $(a_n)$ پولې ته تلونکي ده. پوله ارزښت یې د پرلپسې توکو . $a_n$ $n > n_0$ , سوپریموم همداسې اینفیموم دی.

لیکونکی: اېپ، هیولیګ

د یوې مونوتون جګېدونکې پرلپسې لپاره د سوپرېموم د تعریف سره، چې د ټولو $\varepsilon > 0$ لپاره یو $n_\varepsilon$ شتون لریو د کوم لپاره چې باور لري

$$a - \varepsilon < a_{n_\varepsilon} \leq a = \sup_{n > n_0} a_n$$

د همغږیزوالي په بنسټ دی

$$a - \varepsilon < a_{n_\varepsilon} \leq a_n \leq a \quad \text{, für} \quad n > n_\varepsilon ,$$

نو $a_n \to a$ .

د مونوتون ټیټېدونکې پرلپسې لپاره په ورته توګه دلایل راوړل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرلپسې پولې ته تلنه

## Die Konvergenz der Folge

$$a_n = (1+1/n)^n, \quad n = 0, 1, \ldots,$$

د اویلر عدد $e$ په لور کېدی شي د مونوتون کونورګنت حملې په بنسټ و ښوول شي.
دواړه وړاندنيونې(فرضيې) کېدی شي د بېنوم درسي جملې په مرسته و ښوول شي.

(i) رابنديدنه يا محدوديت: له

$$a_n = (1+1/n)^n = 1 + \binom{n}{1}\frac{1}{n} + \binom{n}{2}\frac{1}{n^2} + \binom{n}{3}\frac{1}{n^3} + \ldots$$

او

$$\binom{n}{k} = \frac{n(n-1)\cdots(n-k+1)}{1\cdot 2\cdots k} \leq \frac{n^k}{1\cdot 2\cdots 2}$$

لاس ته راځي

$$a_n \leq 1 + 1 + \frac{1}{2} + \frac{1}{4} + \ldots \leq 3$$

(ii) همغږيزوالی: سړی $a_{n+1}$ هم د بېنوم له جملې سره شماري:

$$a_{n+1} = 1 + \binom{n+1}{1}\frac{1}{n+1} + \binom{n+1}{2}\frac{1}{(n+1)^2} + \binom{n+1}{3}\frac{1}{(n+1)^3} + \ldots.$$

که دا په (i)کې د $a_n$ انځورونې سره پرتله کړي، نو سړی کره کوي، چې اړونده ترمونه لوی دي:

$$\binom{n}{k}\frac{1}{n^k} = \frac{n(n-1)\cdots(n-k+1)}{1\cdot 2\cdots k}\frac{1}{n^k}$$

$$\leq \frac{(n+1)\cdot n\cdots(n-k+2)}{1\cdot 2\cdots k}\frac{1}{(n+1)^k} \quad =$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$= \binom{n+1}{k} \frac{1}{(n+1)^k}.$$

دا له نامساوات څخه لاس ته راځي

$$\frac{n-j}{n} \leq \frac{n+1-j}{n+1}$$

د یوګونوو ضریبونو لپاره. داچې د $a_{n+1}$ لپاره زیاتون یا جمعه لا ترم

$$\frac{1}{(n+1)^{n+1}}$$

لري لاس ته راځي

$$a_n < a_{n+1}.$$

## نارېښتونی پوله ارزښت **Uneigentliche Grenzwerte**

یوه پرلپسي $(a_n)$ دا نارېښتونی پوله ارزښت ( $-\infty$ ) $\infty$ لري، که د ټولو $a > 0$ لپاره یو $n_a$ شتون ولري، داسې چې

$$a_n > a \quad (< -a)$$

باور ولري د ټولو $n > n_a$ لپاره. پرلپسي چې نارېښتونی پوله ارزښت لري، دا ټاکلې دیورګنت –یا پولې ته نه تلونکې پرلپسې هم بلل کیږي.
لیکونکي:اېپ، هیولیګ، وېپېر

د دې لپاره چې وښایو ، چې

$$a_n = \frac{n!}{2^n} \to \infty,$$

دا په دې معنا چې

$$\frac{n!}{2^n} > a$$

د $n > n_a$ , لپاره، دا $a_n$ سرې د یوې ساده افادې یا وېینې له لارې کښته لور ته تخمینوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a_n = \frac{1 \cdot 2 \cdots n}{2 \cdot 2 \cdots 2} \ge \frac{1}{2} \cdot \frac{n}{2}.$$

له دې سره له $\frac{n}{4} > a$ همداسې له $n > 4a = n_a$ لرو $a_n > a$


## پوله اینفریور او پوله سوپریور(کښته - او پورته پوله ارزښت)

**Limes Inferior und Limes Superio**

د هرې پرلپسې $(a_n)$ لپاره، په ناصلي حالت کې uneigentlichen Sinn ، یو پوله ارزښت شتون لري.

$$\underline{\lim}_{n\to\infty} a_n = \lim_{n\to\infty} \underline{a_n}\,, \quad \underline{a_n} = \inf_{k\ge n} a_k$$

$$\overline{\lim}_{n\to\infty} a_n = \lim_{n\to\infty} \overline{a_n}\,, \quad \overline{a_n} = \sup_{k\ge n} a_k$$




لکه په څیره کې چې ښوول شوی دی، پرلپسې $(a_n)$ د همعریزې پرلپسې $(\underline{a_n})$ او $(\overline{a_n})$ له لارې یا نوره هم ښه له لورې رابندې دي:

$$\underline{a_n} \le a_n \le \overline{a_n}.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پوله اېنفريور او پوله سوپريور يو په بل پريوځي، نو پرلپسي $(a_n)$ پولي ته تلونکي ده او لرو

$$\underline{\lim}_{n\to\infty} a_n = \lim_{n\to\infty} a_n = \overline{\lim}_{n\to\infty} a_n \, .$$

ليکونکي: اېپ ،هيوليگ

د پولي اينفريور او پولي سوپريور شتون د همهغږيز پولي ته تلني جملي له لارې ترلي لاس ته راځي، خکه چې پرلپسي

$$\underline{a}_n = \inf_{k\geq n} a_n \ , \quad \overline{a}_n = \sup_{k\geq n} a_n$$

همغږيز جګيدونکي همداسې همغږيز ټيټيدونکي دي.
په روښانه توګه باور لري

$$\underline{a}_n \leq a_n \leq \overline{a}_n \, .$$

که پوله اينفريور او پوله سوپريور همغه ازښت $a$ ولري، نو لا سته راځي

$$a - \varepsilon < a_n < a + \varepsilon$$

د $n > n_\varepsilon$ لپاره، نو $a_n \to a$ .

## پرتله کوونکې قضيه **Vergleichskriterium**

که د $\lim a_n = a$ او $\lim c_n = c$ سره د پوره کوچني n لپاره
$a_n \leq b_n \leq c_n$ باور لري، نو دی

$$a \leq \underline{\lim}\, b_n \leq \overline{\lim}\, b_n \leq c.$$

په ځانګړې توګه له $a = c$ د پرلپسي $(b_n)$ کونورګنت لاس ته راځي:

$$\lim_{n\to\infty} b_n = a = c \, .$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی غوښتنه ساده ده، ځکه چې نابرابرون $\leq$ د پولې ته تګ له امله ساتلی پتیږي:

$$\inf_{k\geq n} a_n \leq \inf_{k\geq n} b_n \;\Rightarrow\; \lim_{n\to\infty} a_n = \underline{\lim}\, a_n \leq \underline{\lim}\, b_n .$$

په ورته توګه لرو $\overline{\lim}\, b_n \leq c$ .

که پوله ارزښتونه سره برابر وي ( $a = c$ ) ، نو باور لري

$$a - \varepsilon < a_n \leq b_n \leq c_n < a + \varepsilon$$

د $n > n_\varepsilon$ لپاره. له دې سره لرو $b_n \to a$ .

پای.

پوله ارزښت

$$\lim_{n\to\infty} \sqrt[n]{n} = 1$$

په لاندې نامساوات باندې د پرتلې قضیې استعمال له لارې لاس ته راځي

$$1 \leq \sqrt[n]{n} \leq 1 + \frac{2}{\sqrt{n}} .$$

دلته ښی نابرابرون د بینوم د فرمول څخه باوري دی:

$$1 \leq n \leq 1 + n \cdot \frac{2}{\sqrt{n}} + \frac{n(n-1)}{2} \cdot \frac{4}{n} + \cdots$$

په تولیزه توګه د ضرب قانون څخه لاس ته راځي

$$\lim_{n\to\infty} \sqrt[n]{n^k} = \lim_{n\to\infty} \left(\sqrt[n]{n}\right)^k = 1$$

د $k \in \mathbb{N}$ لپاره . د کم نظم ترمونو د په زیاتوالي له امله پوله ارزښت ساتلی پاتیږي. د یوه پولینوم

$$p(n) = a_k n^k + \cdots + a_0 \;,\; a_k > 0$$

لپاره هم $\lim_{n\to\infty} \sqrt[n]{p(n)} = 1$ دی .


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوې پرلپسې پنډغالي ټکی Häufungspunkt einer Folge

یوه پرلپسې $(a_n)$ پنډغالي ټکی $a$ لري، که هر انتروال $(a-\varepsilon, a+\varepsilon)$ , $\varepsilon > 0$ دپرلپسې ناپای ډېر توکي خوندي ولري. دې ته ورته د یوې برخه پرلپسې باور لري، چې $a$ ته ځي. په ځانګړې توګه یوپوله ارزښت د پرلپسې بنډغالي ټکی هم دی.

خیره پرلپسې $(\sin n)_{n\in\mathbb{N}}$ ښايي.




سرې په نږدې توګه د پرلپسې یا ترادف توکو $a_n$ برابرویشنه په انتروال $[-1,1]$ کې پیژني. په ریښتوني ښول کېدی شي، چې په $[-1,1]$ کې هر ټکی د پرلپسې پنډغالي ټکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې پرلپسې يا ترادف $(a_n)$ د پندغالي ټکي د ټاکلو لپاره باید کونورګنت برخه پرلپسې و پیژندل شي.
د بیلګې لپاره

هغه دا دي

$$a_n = \frac{n \sin(n\frac{\pi}{2})}{n + \sin(n\frac{\pi}{2})}$$

$$b_k = a_{2k} = \frac{0}{k}$$

$$c_k = a_{4k+1} = \frac{(4k+1)}{(4k+1)+1}$$

$$d_k = a_{4k+3} = \frac{-(4k+1)}{(4k+1)+1}.$$

له دې سره پنډغالي ټکی لاس ته راځي

$$\lim b_k = 0, \lim c_k = 1, \lim d_k = -1$$

## ورهولست- - یا فرهولست- مودل **Verhulst-Modell**

یو بیلجیمي شمیرپوه وو : Pierre-François **Verhulst** [vəɾˈhʏlst] (* 28. Oktober 1804 in Brüssel; † 15. Februar 1849 ebenda)

## ریکورژن( په څټ ځغاستل) Rekursion


هغه فنکشن، چې د خپل ځان له خوا پیژند لري یا تعریفیږي

$$x_{n+1} = cx_n(1 - x_n)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د $c \in (0,4]$ سره د نورمال شوي خلکو ګنوالي $x_n$ وده په ګوته کوي. يو څو تيوپيکي بيلګې د ا لاندې ځيره ښايي





د $c \le 3$ لپاره $x_n$ د $n \to \infty$ لپاره لاندې پولې ارزښت ته ځي

$$x_* = \frac{c-1}{c}.$$

د $c > 3$ لپاره سړی اوسخليشن ګوري. که پارامتر تل لوی شي، نو د پنډغالي - ټکو $x_*$ ګڼون يا تعداد دوه برابره کيږي د افاظ پارامتر ارزښتونو $c_i$ څخه اوښتلو باندې يعني له دې نور زياتيدلو باندې . دا په لاندې ځيره کې کښل شوی دی، په کوم کې چې د ټکي $x_*$ د $c$ -محور پورته لور ته ځای په ځای شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






پوله ارزښت

$$\lim_{n\to\infty}\frac{c_n - c_{n-1}}{c_{n+1} - c_n} = 4,69920166\ldots$$

داسي په نامه د انځوروني ثابته ده، چې دا زيات وخت د ښانګو کولو پرابلم کي رول لوبوي.

له پورته څيري څخه روښانه کيږي، چې ايتيشن د

$$c > c^* = \lim_{n\to\infty} c_n$$

لپاره يوګډوډيز chaotisches Verhalten حالت ښايي

## د پيPi رکورزيو اپروکسيميشن
## Rekursive Approximation von Pi

د $a_n$ او $b_n$ نيم اوږدوالی چې د يوې يوونګردی يا واحد داېرې د $(6 \cdot 2^n)$ -ګوډونو يا کونجونو په باندې او په کي يعني په دننه اودباندې لاندې ريکورژن پوره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a_{n+1} = \frac{2a_n b_n}{a_n + b_n}\,, \quad b_{n+1} = \sqrt{a_{n+1} b_n}\,, \quad a_0 = 2\sqrt{3}\,, b_0 = 3\,,$$

د $\pi = 3.1415926535897932\ldots$ په مرسته اپروکسیمي کیدی شي.
دا فرمول د یوهان فریدریش پفاف Johann Friedrich Pfaff (1765-1825) له خوا په 1800 زکال میندل شوی.
ارښمیدس Archimedes (287-212 v. Chr.) د 96 ـگوټونو ($n = 4$) او اټکل یا تخمین سره اړیکي

$$3.140845\ldots = \frac{223}{71} < \pi < \frac{22}{7} = 3.142857\ldots$$

ومیندلې یا ترې لاس ته راوړې.

د ګردی ګڼ یا عدد $\pi$ له د یو میلیارد ځایونو ډېر شمیرل شوی دی. لاندې جدول د تاریخي ودې څخه یوه کاپی راکوي:.

| Wert | korr. Stellen | | Jahr | Autor |
|---|---|---|---|---|
| | | | | Bibel (1. Könige 7:23) |

| Autor | Jahr | | korr. Stellen | Wert |
|---|---|---|---|---|
| Bibel (1. Könige 7:23) | 550 | v. Chr. | 0 | 3 |
| Babylonier | 2000 | v. Chr. | 1 | 3+1/8 |
| Archimedes | 250 | v. Chr. | 3 | 223/71 $< \pi <$ 22/7 |
| Liu Hui | 263 | | 5 | |
| Tsu Ch'ung Chi | 480 | | 7 | |
| Al-Kashi | 1429 | | 14 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Romanus | 1593 | | 15 | |
| Van Ceulen | 1596 | | 20 | |
| Van Ceulen | 1615 | | 35 | |
| Sharp | 1699 | | 71 | |
| Machin | 1706 | | 100 | |
| Rutherford | 1824 | | 152 | |
| Strassnitzky/Dase | 1844 | | 200 | |
| Shanks | 1874 | | 527 | |
| Smith/Wrench | 1949 | | 1 120 | |
| Reitwiesner u.a. | 1949 | | 2 037 | |
| Genuys | 1958 | | 10 000 | |
| Shanks/Wrench | 1961 | | 100 265 | |
| Guilloud/Filliatre | 1966 | | 250 000 | |
| Guilloud/Dichampt | 1967 | | 500 000 | |
| Guilloud/Bouyer | 1973 | | 1 001 250 | |
| Kanada/Yoshino/Tamura | 1982 | | 16 777 206 | |
| Kanada/Tamura/Kubo u.a. | 1987 | | 134 217 700 | |
| Chudnovskys | 1989 | | 1 011 196 691 | |

پای.


د ج.ف. پفاف ريکورزيون په ساده هندسي پامکوني باندې ولاړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وړانګي ( تالس) جملې له مخې د $a_n$ لپاره لاس ته راځي:

$$a' : b = \left(\frac{a}{2} - \frac{a'}{2}\right) : \frac{a}{2} \Leftrightarrow a'a = ba - ba' \Leftrightarrow a' = \frac{ab}{a+b}.$$




که $k_n = 3 \cdot 2^n$ د ډېرګوډي نیم د اړخونوګښون یا تعداد په ګوته کړي، نو باور لري

$$a_n = k_n a\,,\ b_n = k_n b \Rightarrow a_{n+1} = k_{n+1} a' = 2k_n \cdot \frac{ab}{a+b}$$

$$= 2\frac{(k_n a)(k_n b)}{k_n a + k_n b} = \frac{2a_n b_n}{a_n + b_n}.$$

د $b_n$ لپاره ریکورزیون کېدی شي د تریګونومتري توابعو په مرسته و ښوول شي. له

$$a_n = k_n 2 \tan(\pi / (2k_n))\,, \quad b_n = k_n 2 \sin(\pi / (2k_n))$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راځي

$$
\begin{aligned}
b_{n+1}^2 &= 4k_n^2 4\sin^2(\pi/(4k_n)) \\
&= \underbrace{2k_n 2\tan(\pi/(4k_n))}_{a_{n+1}}\underbrace{\cos(\pi/(4k_n))2k_n 2\sin(\pi/(4k_n))}_{k_n 2\sin(\pi/(2k_n))=b_n} \\
&= a_{n+1} b_n \,.
\end{aligned}
$$

## د پرلپسیو یا ترادفونو ځانګړي پوله ارزښتونه

یو څو غوره پوله ارزښتونه په لاندې جدول کې راوړل شوي

| $a_n$ | $a = \lim_{n\to\infty} a_n$ |
|---|---|
| | |
| $\sqrt[n]{n}$ | 1 |
| $n^\alpha q^n\,,\ \lvert q\rvert < 1$ | 0 |
| $n^{-\alpha}\ln n\,,\ \alpha > 0$ | 0 |
| $q^n/n!$ | 0 |
| $n!/n^n$ | 0 |
| $(1+1/n)^n$ | $e$ |
| $(1-1/n)^n$ | $1/e$ |

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات واره کيدی شي پوله ارزښتونه وشميرل شي، داسې چې سړی د مناسب بڼه بدلون له لارې معياري افادې ته بېرته ولاړ شي. دا د دوه بيلو سره روښانه کيږي.
(i) د پرلپسې پوله ارزښت شمېرلو ته

$$a_n = \left(1 + \frac{1}{2n+3}\right)^{4n}, \quad n \in \mathbb{N},$$

سړی ږدي

$$m = 2n + 3,\ n = \frac{m-3}{2}$$

او لاس ته راوړي

$$a_n = \left(1 + \frac{1}{m}\right)^{2m-6}.$$

په دې پسې يا د دې په تعقيب دی

$$\lim_{n\to\infty} a_n = \left(\lim_{m\to\infty}\left(1 + \frac{1}{m}\right)^m\right)^2 \cdot \left(\lim_{m\to\infty}\left(1 + \frac{1}{m}\right)\right)^{-6} =$$

$$= e^2 \cdot 1^{-6} = e^2.$$

$$a_n = \binom{3n}{n}/2^n, \quad n \in \mathbb{N},$$

(ii) د دې لپاره چې د
پوله ارزښت وشميرو، سړی ليکي

$$a_n = \frac{(3n)(3n-1)\cdots(2n+1)}{n\cdot(n-1)\cdots 1} \cdot \frac{1}{2^n} =$$

$$= \left(\frac{3}{2} \cdot \frac{3-1/n}{2} \cdots \frac{2+1/n}{2}\right) \cdot \frac{n^n}{n!}.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په نوکانو کې افاده $\geq 1$ ده لرو

$$\lim_{n\to\infty} a_n \geq \lim_{n\to\infty} \frac{n^n}{n!} = \infty.$$

د لاندې بڼې پوله ارزښت

$$\frac{a_n \pm b_n}{c_n \pm d_n}$$

په مناسب ډول سړی داسې شمیري، چې سړی د مطلق ارزښت د لویې پرلپسې توکو سره وویشي:
د بیلګې په توګه دا پوله ارزښت

$$\lim_{n\to\infty} \frac{(3+\sqrt{n+4})^2}{5n+\ln n}$$

که غواړو وشمیرو، نو مات یا کسر په لاندې بڼه لیکو

$$\frac{9+3\sqrt{n+4}+n+4}{5n+\ln n} = \frac{13/n+6\sqrt{1/n+4/n^2}+1}{5+(\ln n)/n}.$$

دا چې $1/n, 1/n^2$ او $(\ln n)/n$ د صفر پهلور ځی، نو پوله ارزښت دا لاندې دی

$$\frac{0+6\cdot\sqrt{0}+1}{5+0} = \frac{1}{5}.$$

## د یوې لړی پرلپسې ( لنډ: لړی) پوله ارزښت
**Grenzwert einer Reihe**

یو زیاتون یا جمعه $\sum_{k=0}^{\infty} a_k$ دډېروو زیاتیدونو سره لړی بلل کیږي. دا د یوې پولې ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$s = \sum_{k=0}^{\infty} a_k,$$

په لور هڅيږي، که ټوټه زياتوونويا – جمعو

$$s_n = \sum_{k=0}^{n} a_k$$

پرلپسې $(s_n)$ د $s$ لور ته وهڅيږی يا کونورګنت شي. که پوله ارزښت شتون ونه لري نو پرلپسې پولې ته نه تلونکې يا ديورګنت بلل کيږي.
پوله ارزښت کېدی د زياتوونو ( هغه عددونه چې يو په بل زياتيږي) د لړۍ پرلپسې په واک کې وي، همداسې اړتيا نه شته چې د نظم بدلون وروسته شتون ولري.

د يوې لړۍ د پولې ته تلنې لپاره اړيين (شرط) دی، چې

$$\lim a_n = 0.$$

فقط په لږو حالتونو کې د يوې لړۍ روښانه يا اکسپليڅيت شمېرنه ممکن ده. يوه بېلګه يې د ټاکلو لړيو ده د راشنل زياتيدونو سره لکه

$$\sum_{n=2}^{\infty} \frac{2}{n^2-1} = \frac{3}{2}.$$

د ټوټه کسر ټوټه ونې وروسته

$$\frac{2}{n^2-1} = \frac{1}{n-1} - \frac{1}{n+1},$$

کېدی شي دا لړۍ په

$$(\frac{1}{1} - \frac{1}{3}) + (\frac{1}{2} - \frac{1}{4}) + (\frac{1}{3} - \frac{1}{5}) + (\frac{1}{4} - \frac{1}{6}) + \dots$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنه ولیکل شي. تر $\frac{1}{1}$ او $\frac{1}{2}$ پورې ټول زیاتېدونې یو بل له منخه وړي یا پورته کوي،

داسې چې پوله ارزښت $\frac{3}{2}$ ترلی لوستل کېدی شي.

د ټوټه زیاتون د کمښت لپاره د ټول $n < m$ لپاره باور لري

$$|s_n - s_m| =$$

$$= |(\frac{1}{n-1} - \frac{1}{n+1}) + (\frac{1}{n} - \frac{1}{n+2}) + \ldots + (\frac{1}{m-3} - \frac{1}{m-1}) + (\frac{1}{m-2} - \frac{1}{m})| \leq$$

$$\leq \frac{4}{n-1},$$

داچې منځني ترمونه سره پورته کيږي يا له منځه سره وړي. ټوټه زياتون يا ـجمعه د کوشي – پرلپسې جوړوي:

$$|s_n - s_m| < \varepsilon$$ د لپاره $$n > 1 + \frac{4}{\varepsilon}.$$

و پولې ارزښت ته کمون یا تفریق دی

$$|\frac{3}{2} - s_n| = \frac{1}{n} + \frac{1}{n+1} < \frac{2}{n}.$$

بيلګه دا هم ښايي، چې د زياتوونو يا د جمعې د غړو لړۍ پرلپسې غوره يا ښه روښانه ده.

که لړۍ پرلپسې

$$(1 + \frac{1}{2} - \frac{1}{3}) + (\frac{1}{3} + \frac{1}{4} - \frac{1}{4}) + (\frac{1}{5} + \ldots + \frac{1}{8} - \frac{1}{5}) +$$

$$+ (\frac{1}{9} + \ldots + \frac{1}{16} - \frac{1}{6}) + \ldots ,$$

وټاکو، نو هر ه په نوکاانو کې افاده $\geq \frac{1}{4}$ ده، نو لړۍ پرلپسې ديورګنت ده.

## هندسي يا ځمککچيزې لړۍ
**Geometrische Reihe**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکچیزه لړۍ $\sum_{k=0}^{\infty} q^k$ تیک هلته پولې ته ځي، $|q| < 1$ وي.
د هندسي زیاتونفرمول سره


$$s_n = 1 + q + \cdots + q^n = \frac{1 - q^{n+1}}{1 - q}$$

کېدی شي پوله ارزښت وښانه یا اکسپلیځیت وشمېرل شي:


$$\lim_{n\to\infty} s_n = 1 + q + q^2 + q^3 + \cdots + q^n + \cdots = \frac{1}{1 - q}$$

د $|q| < 1$ لپاره.
پای.

که د یوه برابر اړخیز درېکوډي یا مثلث مخ ته تک سره ژۍ د قانون یا قاعدې سره سم کیږدو



نو یوه ډېرۍ یا ستې لاس ته راځي د وتلو ژیو سره ، داسې په نامه د کوښ-د واورو پوتې Koch-Schneeflocke.



- $1/3$ -م د واورو پوتی $3 \cdot 4^n$ ژۍ لري. دا چې د هر پل سره په ضریب کمیږي، نو د دې خومره والي لپاره لاس ته راځي

د ژیو ګښون یا – تعداد ضرب د ژیو اوږدوالی:

$$(3 \cdot 4^n)\,(3^{-n}) = 3\,\left(\tfrac{4}{3}\right)^n \to \infty,$$

،

دا په دې معنا چې د ژیو اوږدوالی پولې ته نه ځي یا دیورګنت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په $n$ -م پل سره $3\cdot 4^{n-1}$ برابراړخيز درېګوډي لاس ته راځي د ژيو اوږدوالي $3^{-n}$
او سطحې $\sqrt{3}/4\,(3^{-n})^2$ په ور زياتوالي سره. په دې توګه د $n$ –م د واورو پوټي د سطحې لپاره راکوي

$$\frac{\sqrt{3}}{4}+\sum_{i=1}^{n}\left(3\cdot 4^{i-1}\frac{\sqrt{3}}{4}\left(3^{-i}\right)^2\right) = \frac{\sqrt{3}}{4}\left(1+\frac{1}{3}\sum_{i=1}^{n}\frac{4^{i-1}}{9^{i-1}}\right)$$

$$= \frac{\sqrt{3}}{4}\left(1+\frac{1}{3}\sum_{i=0}^{n-1}\left(\frac{4}{9}\right)^i\right).$$

دا وتلې پوله ډېرۍ په پسې توګه سطحه لري

$$\frac{\sqrt{3}}{4}\left(1+\frac{1}{3}\,\frac{1}{1-4/9}\right)=\frac{2\sqrt{3}}{5}.$$

## هارموني لړۍ Harmonische Reihe

هارموني لړۍ

$$s=1+\frac{1}{2}+\frac{1}{3}+\frac{1}{4}+\cdots=\sum_{k=1}^{\infty}\frac{1}{k},$$

پولې ته نه ځي يا همداسې ناټاکلی پوله ارزښت $s=\infty$ لري.
په ټوليزه توګه لړۍ

$$s_\alpha=\sum_{k=1}^{\infty}k^{-\alpha}$$

د $\alpha\leq 1$ لپاره ديورګنت او $\alpha>1$ لپاره پولې ته تلونکې ده. يو څو ځانګړي ارزښتونه د.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$s_2 = \sum_{k=1}^{\infty} k^{-2} = \frac{1}{1^2} + \frac{1}{2^2} + \frac{1}{3^2} + \dots ,$$

$$s_4 = \sum_{k=1}^{\infty} k^{-4} = \frac{1}{1^4} + \frac{1}{2^4} + \frac{1}{3^4} + \dots ,$$

$$s_6 = \sum_{k=1}^{\infty} k^{-6} = \frac{1}{1^6} + \frac{1}{2^6} + \frac{1}{3^6} + \dots .$$

## مطلق پولې ته تلونکې لړۍ **Absolut konvergente Reihen**

که

$$\sum_{n=0}^{\infty} |a_n|,$$

پولې ته لاړ شي، نو لړۍ $\sum_{n=0}^{\infty} a_n$ مطلق پولې ته تلونکې بللل کيږي.

د کونورګنت د دې قوي بڼې څخه لرو، چې لړۍ د زياتوونو لړې پرلپسي په خوښه تغير له امله هم کونورګنت ده يعنې پولې ته ځي.

کوښۍ (کوشي) – کونورګنت قضيه راکوي:

$$\exists n_\varepsilon : |a_{m+1}| + \dots + |a_n| < \varepsilon \quad \text{für} \quad m,n > n_\varepsilon$$

د دريګوډي نابرابرون په مرسته د ټوټه زياتون د کمښت لپاره لاس ته راځي:

$$|s_n - s_m| = |a_{m+1} + \dots + a_n| \le |a_{m+1}| + \dots + |a_n| < \varepsilon$$

د $m,n > n_\varepsilon$ , لپاره ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې معناچې د $\sum_{k=0}^{\infty} a_k$ پولې ته تلنه.

## مايورانت او مينورانت
## Majorante und Minorante

که $|a_n| \le c|b_n|$ د $n \ge n_0$ لباره وي او یو مثبت یا زیاتیزه ثابته، نو د $\sum b_n$ مطلق کونورگنت څخه د $\sum a_n$ مطلق کونورگنت لاس ته راځي

که برعکس $|a_n| \ge c|b_n|$ وي دټولو تر پای ډیرو $n$ لپارهو نو د $\sum |b_n|$ دیورگنت څخه لاس ته راځي، چې $\sum a_n$ هم مطلق کونورگنت نه ده.

زیاتوخت یا زیات واره هندسي لړۍ $\sum q^n$ او لړۍ $\sum n^{-\alpha}$ د پرتله کونې لړۍ په څير کارول کيږي.

د لړۍ

$$\sum_{n=0}^{\infty} \binom{2n}{n}^{-1}$$

لپاره دی

$$a_n = \frac{n \cdot (n-1) \cdots 1}{(2n) \cdot (2n-1) \cdots (n+1)} \le 2^{-n} .$$

د دې په تعقیب هندسي لړۍ $\sum 2^{-n}$ یوه مايورانت ده، نو دا پولې ته تلونکې ده.
د لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\sum_{n=1}^{\infty} \frac{n^2}{n^3+1000}$$

لپاره د $n > 9$ لپاره باور لري

$$a_n \ge \frac{n^2}{2n^3} = \frac{1}{2} \cdot \frac{1}{n} .$$

په دې پسې یا په تعقیب هارموني لړۍ یوه مینورانت ده، نو لړۍ پولې ته نه ځي یا دیورګنت ده.

## د وېش قضیه Quotientenkriterium

که $a_n \neq 0$ د $n > n_0$ لپاره وي او یو عدد $q \in (0,1)$ شتون ولري د

$$\left|\frac{a_{n+1}}{a_n}\right| \le q , \quad n > n_0 ,$$

سره، نو $\sum a_n$ مطلق پولې ته ځي. برعکس

$$\left|\frac{a_{n+1}}{a_n}\right| \ge 1 , \quad n > n_0 ,$$

، نو $\sum a_n$ پولې ته نه ځي یا دیورګنت ده.

د پولې ته تلنې لپاره پوره کېدونکې قضیه کېدی شي په ورته بڼه

$$\overline{\lim_{n\to\infty}} \left|\frac{a_{n+1}}{a_n}\right| < 1$$

هم ولیکل شي.

په پام کې دې وي، چې پوره کېدونکې پولې ته تلونکې شرطونه رکورزیو د نابرابرون

$$|a_{n+1}| < |a_n| , \quad n > n_0 ,$$

په توګه دی، چې د هغې په بنسټ کومهوینا ممکن نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای.

که

$$\left|\frac{a_{n+1}}{a_n}\right|\,,\;\left|\frac{a_{n+2}}{a_{n+1}}\right|\,,\;\dots\;\le q\,,$$

وي، نو دی

$$|a_{n+k}|\le q|a_{n+k-1}|\le\dots\le q^k|a_n|\,.$$

له دې سره هندسي لړۍ يوه مينورانت ده.
د ديورګنت لپاره قضيه راکوي، چې

$$0<|a_n|\le|a_{n+1}|\le\dots$$

د $n>n_0$ لپاره. زياتيدوني صفرپرلپسي نه جوړوي، له کوم چې د $\sum a_n$ ديورګنت
لاس ته راځي يا پولې ته نه تګ..
پای.

د وېش قاعده کېدی شي ګټوره وي که په لړيو استعمال شي، چې د هغې زياتووني
فاکولتيت او توانونه خوندي ولري. د

$$\sum_{n=1}^{\infty}3^n\Big/\binom{2n}{n}$$

لپاره د بېلګې په توګه سړی لاس ته راوړي

$$\frac{|a_{n+1}|}{|a_n|}=\frac{3^{n+1}\,(n+1)!\,(n+1)!}{(2n+2)!}\cdot\frac{(2n)!}{3^n\,n!\,n!}=\frac{3\cdot(n+1)(n+1)}{(2n+2)(2n+1)}\,.$$

د دې افادې پوله ارزښت د $n\to\infty$ لپاره $\frac{3}{4}$ دی، پسې(تعقيب) يې لړۍ پولې ته ځي.

د زياتوونو يو سيده تخمين

$$a_n=\frac{3\cdot6\cdots3n}{(n+1)(n+2)\cdots(2n)}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفصل دی یا ډېر کار غواړي. ضریبونه

$$\frac{3k}{n+k}, \quad k=1,\ldots,n,$$

له یو څخه هم لوی دي او هم کوچني. سړی باید مناسبې جوړې سره یوځای کاندي، چې یوه تخمین ته راشي.

د ریښې یا جذرقضیه **Wurzelkriterium**

که یو عدد $q \in [0,1)$ د

$$\sqrt[n]{|a_n|} \le q$$

سره شتون ولري د $n > n_0$ لپاره، نو $\sum a_n$ مطلق پولې ته ځي. که برعکس

$$|a_n| \ge 1$$

وي د ناپای ډېرو $n$ لپاره، نو $\sum a_n$ پولې ته نه تلونکې ده.

د کونورګنت لپاره پوره کېدونکي شرطونه کېدی شي په ورته یا برابر ارزښته بڼې

$$\overline{\lim_{n\to\infty}} \sqrt[n]{|a_n|} < 1$$

هم ولیکل شي.

که $|a_n| \le q^n$ د $n > n_0$ لپاره باور ولري، نو هندسي لړی یو مایورانت جوړوي.

د دیورګنت لپاره شرط راکوي، چې $(a_n)$ صفر پرلپسې نه ده، ځکه چې $|a_n| \ge 1$ د ناپای ډېرو $n$ لپاره باور لري..

د ریښې قضیه استعما کېدی شي په هغو لړیو ګټوره وي، چې د هغو زیاتونونه $n$ -م توان خوندي ولري. د

$$\sum_{n=1}^{\infty} \frac{x^n}{(3+(-1)^n)^n} = \frac{x}{2} + \frac{x^2}{2^2} + \frac{x^3}{2^3} + \ldots$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره سړی د بیلګې په توګه لري

$$\sqrt[n]{|a_n|} = \frac{|x|}{|3+(-1)^n|}\,.$$

د دې افادې یا وېینې پرلپسې

$$\frac{|x|}{2}, \frac{|x|}{4}, \frac{|x|}{2}, \ldots,$$

د

$$q = \frac{|x|}{2}$$

له لارې یا سره محدود ده. په تعقیب یې لړی د $|x| < 2$ لپاره پولې ته ځي.
همدې نتیجې ته رسو، که سړی پوله سوپریور جوړه کړي.

$$\overline{\lim_{n\to\infty}} \sqrt[n]{|a_n|} = \frac{|x|}{2}\,.$$

دا د $n$ –مې ریښې اوسځیلیري پرلپسې پولې ته نه ځي بې پروا یا نا غوره یا مهمه نه ده.

## د لایبنیځ قضیه Leibniz-Kriterium

الترنیري (مخ نخښه بدلوني) لړۍ

$$\sum_{k=0}^{\infty} (-1)^k a_k = a_0 - a_1 + a_2 - a_3 \pm \cdots$$

پولې ته ځي، که $(a_k)$ یوه مونوتون صفر پرلپسې وي. د لړۍ باقیو یا پاتو لپاره باور لري

$$0 \le \Big|\sum_{k=n+1}^{\infty} (-1)^k a_k\Big| \le |a_{n+1}|.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې الترنيري جمعې ارزښت کېدی شي تل د لومړي زياتوني  د مطلق ارزښت له لارې اټکل شي.

د اټکل په بنسټ

$$|s_m - s_n| = |a_{n+1} - a_{n+2} + \ldots - a_m| \le |a_{n+1}|$$

د کوښنی قضيه پوره ده، او د   لپاره د پاتې جمعې اټکل لاس ته راځي.
د دې نامساوات د ښوونې لپاره، چې د لړی دپاتې لپاره اټکل  راکوي، سړی بې له ټوليزو بنديزونو (o.B.d.A.)  $a_{n+1} \ge 0$ نيسي او $s_m - s_n$ د

$$a_{n+1} - \underbrace{(a_{n+2} - a_{n+3})}_{\ge 0} - \underbrace{(a_{n+4} - a_{n+5})}_{\ge 0} - \ldots \le a_{n+1}$$

له لارې پورته لور ته  اټکل کوي. او د

$$\underbrace{(a_{n+1} - a_{n+2})}_{\ge 0} + \underbrace{(a_{n+3} - a_{n+4})}_{\ge 0} + \ldots \ge -a_m \ge -a_{n+1}$$

له لارې کښته لور ته اټکل کوي

د لايبنيځ  قضيې  سره  د الترنيري هارموني لړۍ

$$\sum_{n=1}^{\infty} \frac{(-1)^n}{n} = \ln 2\,;$$

پولې ته تګ  لاس ته راځي ، پرلپسې

$$a_n = \frac{1}{n}$$

په روښانه توګه يوه همغږېزه صفر پرلپسي ده.  د n  –م ټوټه جمعې ناټيکاوی ، دا په دې معنا چې د لړی پرلپسي مطلق ارزښ دا لاندې دی

$$\left|\sum_{k=1}^{n} \frac{(-1)^k}{k} - \ln 2\right| \le \frac{1}{n+1}\,.$$

د لايبنيځ قصيې دواړه وړاندنيوني  غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د

$$\sum_{n=1}^{\infty}(-1)^n\,\frac{n+1}{n}=-\frac{2}{1}+\frac{3}{2}-\frac{4}{3}+\frac{5}{4}-\dots$$

لړۍ لپاره زياتووني $a_n$ صفرپرلپسې نه جوړوي. له

$$|s_{n+1}-s_n|=|a_{n+1}|\geq\ 1$$

څخه ديورگنت لاس ته راځي.

د

$$\sum_{n=1}^{\infty}{}_{\max}\left(\frac{(-1)^n}{n},\frac{(-1)^n}{2n}\right)=-\frac{1}{2}+\frac{1}{2}-\frac{1}{6}+\frac{1}{4}-\dots$$

لړۍ لپاره زياتوونې $a_n$ همغږيزې نه دي. که يو په بل پسې زياتوني سره يوځای کړو، نو لاس ته ترې راځي

$$b_n=a_{2n-1}+a_{2n}=-\frac{1}{2(2n-1)}+\frac{1}{2n}=\frac{2n-2}{(4n-2)(2n)}\geq\frac{1}{4n}$$

für $n>1$.

په تعقيب هامونې لړۍ $\sum_{n=1}^{\infty}\frac{1}{n}$ يوه مينورانت ده، نو له دې کبله لړۍ ديورگنت ده.

د اويلر **Euler** گڼ يا عدد **e** ديوې پرلپسې او يوې لړۍ پولې په حيث

د اويلر عدد $e=2,71828182845905\dots$

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدی شي د یوې پرلپسې او یوې لړۍ پوله ارزښت پّ ځیر انځور شي

$$\lim_{n\to\infty}\left(1+\frac{1}{n}\right)^n = e = \sum_{n=0}^{\infty}\frac{1}{n!}$$

پای.

د لړۍ پولې ته تلنه له $1/n! \leq 4\cdot 2^{-n}$ څخه د مایورانت قضیې په بنسټ لاس ته راځي.

پرلپسې $a_n = (1+1/n)^n$ د لاندې دوا‌ړو اټکلونو په بنسټ د $e$ سره نومول شوي یا په نخښه شوي پوله ارزښت په لور ځي.

$$\overline{\lim}_{n\to\infty} a_n \leq e \qquad \text{(a)}$$

د ښوونې لپاره لومړی په پام کې نیسو چې د $n \geq k \geq 0$ لپاره

$$\binom{n}{k}\frac{1}{n^k} = \frac{1}{k!}\,\frac{n}{n}\,\frac{n-1}{n}\cdots\frac{n-k+1}{n} \;\leq\; \frac{1}{k!}$$

دی. له دې سره د بینوم فرمول څخه لرو

$$a_n = \left(1+\frac{1}{n}\right)^n = \sum_{k=0}^{n}\binom{n}{k}\frac{1}{n^k} \leq \sum_{k=0}^{n}\frac{1}{k!} \leq e$$

او دپوله ارزښت جوړولو سره غوښتنه لرو.

$$\underline{\lim}_{n\to\infty} a_n \geq e. \qquad \text{(b)}$$

د ښوونې لپاره $N \geq 1$ په خوښه تاکو مګر کره او د $n > N$ لپاره لرو:

$$a_n \geq \sum_{k=0}^{N}\binom{n}{k}\frac{1}{n^k} = \sum_{k=0}^{N}\frac{1}{k!}\,\frac{n}{n}\,\frac{n-1}{n}\cdots\frac{n-k+1}{n} \geq \sum_{k=0}^{N}\frac{1}{k!}\left(\frac{n-N}{n}\right)^N.$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره لاس ته راځي

$$\lim_{n\to\infty} a_n \geq \lim_{n\to\infty} \sum_{k=0}^{N} \frac{1}{k!}\left(1-\frac{N}{n}\right)^{N} = \sum_{k=0}^{N} \frac{1}{k!}$$

او د پولي ارزښت جوړولو( $N \longrightarrow \infty$ ) سره غوښتنه.

له (a)او (b ) څخه د $\underline{\lim}\, a_n \leq \overline{\lim}\, a_n$ له امله لرو :

$$\underline{\lim}_{n\to\infty} a_n = \overline{\lim}_{n\to\infty} a_n = e.$$

## د لړيو ځانګړي پوله ارزښتونه

په لاندې کې د څو غوره لړيو پوله ارزښتونه ورکړ شوي.

.

$$\sum_{k=0}^{\infty} aq^k = a + aq + aq^2 + \cdots = \frac{a}{1-q}\ \text{, für } |q| < 1$$

$$\sum_{k=1}^{\infty} \frac{1}{k} = 1 + \frac{1}{2} + \frac{1}{3} + \cdots = \infty$$

$$\sum_{k=1}^{\infty} (-1)^{k-1}\frac{1}{k} = 1 - \frac{1}{2} + \frac{1}{3} - \frac{1}{4} \pm \cdots = \ln 2$$

$$\sum_{k=1}^{\infty} \frac{1}{k^2} = 1 + \frac{1}{2^2} + \frac{1}{3^2} + \cdots = \frac{\pi^2}{6}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library




$$\sum_{k=1}^{\infty}(-1)^{k-1}\frac{1}{k^2} = 1-\frac{1}{2^2}+\frac{1}{3^2}-\frac{1}{4^2}\pm\cdots=\frac{\pi^2}{12}$$

$$\sum_{k=0}^{\infty}\frac{1}{k!} = 1+\frac{1}{1!}+\frac{1}{2!}+\frac{1}{3!}+\cdots=e$$

$$\sum_{k=0}^{\infty}(-1)^{k}\frac{1}{k!} = 1-\frac{1}{1!}+\frac{1}{2!}-\frac{1}{3!}\pm\cdots=\frac{1}{e}$$

$$\sum_{k=1}^{\infty}\frac{1}{k\cdot 2^k} = \frac{1}{2}+\frac{1}{2\cdot 2^2}+\frac{1}{3\cdot 2^3}+\cdots=\ln 2$$

## ناپرېکیدنه یا متمادیت **Stetigkeit**



(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تابع $f$ په ټکی $a$ کې ناپرېکیدونکی یا متمادي دی، که د ټولو پرلپسیو $(x_n)$ لپاره د د پولې $a$ سره د تابع ارزښت $f(x_n)$ د $f(a)$ په لور کونورګنت وی یا هڅیږي:

$$x_n \to a \Longrightarrow f(x_n) \to f(a)\,,$$

د پوله ارزښت د تعریف له مخې هر $\varepsilon > 0$ ته یو $\delta_\varepsilon$ شتون ل رې د $|f(x) - f(a)| < \varepsilon$ سره د $|x - a| < \delta_\varepsilon\,,$ لپاره ، او سړی لیکي

$$\lim_{x \to a} f(x) = f(a)\,.$$

یو تابع په یوه انتروال $D$ ناپرېکیدونکې ده، که دا د $D$ په هر ټکي کې ناپرېکېدونکې وي.


دا په دې معناچې د $f$ ګراف سره ترلی دی، تابع ګام یا ټوپ نه وهي او قطب نه لري ( لنډ: نه پرې کیږي او نه ماتیږي).

بالاخره ناپرېکېدنه په دې معنا ده، چې ګراف بې له دې چې ( پنسل پورته شي) پرې شي رسم کیږي.

| | |
|---|---|
| $f(x) = \operatorname{sign}(x)$ فنکشن | $g(x) = \dfrac{x+1}{x^2-1}$ فنکشن |

(c) ketabton.com: The Digital Library






پورته دواړه بيلګې د پرېکيدنې مختلف تيوپونه ښايي.

د سيګنوم تابع $\text{sign}$ په صفرځاى کې يو توپ وهي. په حقيقت کې د تابع ارزښت $\text{sign}(0) = 0$ تعريف دی، مګر د $f(x)$ پوله ارزښت د $x \to 0$ لپاره شتون نه لري.

تابع په $x = \pm 1$ کې تعريفتشيا لري. د $x \to 1$ لپاره $|g(x)|$ د $\infty$ په لور هخيږي، $g$ هلته يو قطبځای لري. مګر سره له دې هم پوله ارزښت $\lim\limits_{x \to -1} g(x)$ شتون لري. دا تړلی د کرښيز ضريب $(x+1)$ د لنډونې څخه کتل کيږي.


$$g(x) = \frac{1}{x-1}, \; x \neq -1 .$$

دا يوه له منځه وړونکې يا پورته کېدونکې تعريفتشيا ده. د تابع ارزښت $g(-1) = -\frac{1}{2}$ د تکميلونې له لارې $g$ په $\mathbb{R}\backslash\{1\}$ باندې يو ناپرېکيدونکې تابع کيږي.

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library






تابع ( خیرې یې پورته دي)
$f(x) = \sin(1/x)$

په صفر 0کې پرېکیدونکي ده، ځکه چې د $x \to 0$ لپاره د $-1$ او $1$ ترمنځ اوسخیلی کیږي.

برعکس یاپه ښتډ د تابع

$$g(x) = x\sin(1/x)$$

تعریفتشیا په $x = 0$ کې پورته کیدونکې یا له منځه وړونکې ده.

له

$$0 \leq |x\sin(1/x)| \leq |x|$$

د $\lim_{x \to 0} |x| = 0$ سره د پرتله کیدونکي قضیې په بنسټ لاس ته راځي

$$\lim_{x \to 0} x\sin(1/x) = 0.$$

له دې امله کیدی شي د $g$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$g(0) = 0$


اینووني له لارې یوه په ټول $\mathbb{R}$ ناپرېکیدونکي تابع ته پوره شي.

## یو اړخیز ناپرېکیدنوالی یا متمادیت **Einseitige Stetigkeit**

ناپرېکدنوالي ته ورته سړی کیږ- همداسې ښی ناپرېکېدنوالی تعریفوي

$$\lim_{x \to a-} f(x) = f^{-}(a)\,, \qquad \lim_{x \to a+} f(x) = f^{+}(a),$$

داسې چې د $x$ محور د $a$ په اړونده اړخ ترخېړنې لاندې ونیسي





که د $f$ په یوه ټوپځای تابع ارزښت تعیف وي، نو دا په ګراف کې پنډ په نخښه کېدی شي، چې روښانه شي چې د کیږ- یا ښي اړخ د پولې ارزښت سره سر خوري.

پای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تابع
$$f(x) = x/|x|$$
په ټولو ټکو کې تر تعریفتشیا $x = 0$ پورې ناپرېکیدونکي ده.




که $f(0) = -1$ کېږدو نو تابع به کيڼ اړخيزه او د $f(0) = 1$ سره ښۍ اړخيزه ناپرېکېدونکي په 0 کې مخ ته لاړه شي. د $f(0) = 0$ لپاره د سيګنوم-تابع

$$f(x) = \text{sign}(x),$$

لاس ته راځي، چې دا په 0 کې نه ښۍ – او نه کينه ناپرېکېدونکې دی.

## د ناپرېکیدونکو توابعو لپاره لارې یا قاعدې

په یوه ټکي $a$ کې ناپرېکېدونکي توابعو $f$ او $g$ لپاره
$$rf \quad (r \in \mathbb{R})$$
$$f \pm g$$
$$fg$$
$f/g$ ( وي $g(a) \neq 0$ ) که
$$f \circ g$$
په $a$ کې ناپرېکیدونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورته وګه په یوه انتروال $D$ ناپرېکېدونکې تابع همداسې د کېڼ – اوښې اړخیز ناپرېکېدنوالي ځایونو لپاره باور لري.
پای.

دا لار د پوله ارزښت لپاره اړونده وینا څخه ترلې لاس ته راځي.
که دبېلګې په ت وګه د ناپرېکېدونکو توابعو کمپوزېشن( ترکیب) تر څېړنې ونیسو، د $g$ د ناپرېکېدنوالي څخه د هرې پرلپسې $(x_n)$ لپاره د پوله ارزښت $a$ سره دا راکوي

$$\lim_{n\to\infty} g(x_n) = g(a).$$

دا چې $f$ هم ناپرېکېدونکی دی، لاس ته راځي


$$\lim_{n\to\infty} f(g(x_n)) = f(g(a)).$$

پای.

داسې په نامه $\operatorname{sinc}$ - تابع.


$$f(x) = \operatorname{sinc} x = \frac{\sin x}{x}$$

د مخ ته بیولو یا دوام
$f(0) = 1$
سره په $\mathbb{R}$
باندې ناپیکېدونکې ده.
ښوونه یې د ترېګونومتریک توابعو په تخمین پورې اړه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library






د ردېګودي $\Delta(OPQ)$ ، د ګردۍ ټوټه ووني یا
وتر او درېګودي $\Delta(O\overline{P}\,\overline{Q})$ د سطحو د پرتلې
له لارې په څېره کې کتل کيږي، چې

$$\frac{\sin x \cos x}{2} \le \frac{x}{2} \le \frac{\tan x}{2}$$

همداسې

$$\frac{1}{\cos x} \ge \operatorname{sinc} x \ge \cos x,$$

د $\sin x/2$ سره وېشنې له لارې او د معکوس
ارزښت جوړونه. د $\lim_{x\to 0} \cos x = 1$ د پرتلې
قضيې څخه لاس ته راځي.

$$\lim_{x\to 0} \operatorname{sinc} x = 1.$$


ليکونکي: اپپ، هيوليک
تابع

$$f(x) = \frac{\cos x - 1}{x}$$

د مخ ته وړنې $f(0) = 0$ سره په ټول $\mathbb{R}$ ناپرېکيدونکې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library






باور لري

$$\frac{\cos x - 1}{x} = \frac{(\cos x - 1)(\cos x + 1)}{x(\cos x + 1)} = \frac{\cos^2 x - 1}{x(\cos x + 1)}$$

$$= -\frac{\sin^2 x}{x(\cos x + 1)} = -\frac{\sin x}{x}\frac{1}{\cos x + 1}\sin x,$$

او له

$$\lim_{x\to 0}\frac{\sin x}{x} = 1, \quad \lim_{x\to 0}\frac{1}{\cos x + 1} = \frac{1}{2} \quad \text{und} \quad \lim_{x\to 0}\sin x = 0$$

لاس ته راځي

$$\lim_{x\to 0}\frac{\cos x - 1}{x} = 0.$$


ليکونکي: اپپ، هیولیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## منځ ارزښت جمله **Zwischenwertsatz**

یو ناپرېکېدونی تابع $f$ په یوه بندانتروال $[a,b]$ د $f(a)$ او $f(b)$ ترمنځ هر ارزښت نیسي یا غوره کوی.




لیکونکي: اپپ، هیولیګ


که یو تابع $f$ انتروال $[a,b]$ په انتروال $[a,b]$ ناپرېکېدونکی تنظیم کړي، نو یو $x_\star$ شتون لري د

$$x_\star = f(x_\star).$$

سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ناپرېکيدونکې تابع

$$g(x) = f(x) - x$$

لپاره $g(a) \geq 0$ او $g(b) \leq 0$ باور لري. د منځ ارزښت جملې سره د يوه صفرځای $x_\star \in [a,b]$ شتون لاس ته راځي:

د نتپرېکيدونکو توابعو لپاره

$$g(x) = f(x) - x$$

$$g(x_\star) = 0 \;\Leftrightarrow\; f(x_\star) = x_\star$$


دا په دې معناجې د $f$ يو ځاي په ځای - يا بيکس تکی $x_\star$.
ليکونکي: هيوليګ، کراخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه سطحو – یا برخو تلنلار **Bisektionsverfahren**

د منځ ارزښت جملې په بنسټ يو ناپرېکيدونکی تابع $f:[a,b]\rightarrow\mathbb{R}$ د $f(a)f(b)\leq 0$ سره لږ تر لږه يو صفرځای په $[a,b]$ کې لري.




که دا انتروال نيم شي او $f$ ته د انتروال په ةنځ کې ارزښت ورکړي

$$c=\frac{a+b}{2}$$ ،

نو کيدی شي د مخنښې په مرسته پرېکړه وشي، چې د کوم انتروال په نيمايي کې بايد صفرځای پروت وي:

$f(a)f(c)\leq 0$ لاسته راځي ، چې په $[a,c]$, کې صفرځای شتون لري

$f(a)f(c)\geq 0$ لاس ته راځي صفرځاب په $[c,b]$ . کې شتون لري

سړی اوس دا اړونده برخه انتروال ټاکي او دااېتريرiteriert ( ټيک حل ته ور نږدې کونه) کوي، تر څو د انتروال اوږدوالی غوښتوني ټيکوالي ته ورسيږي.


ليکونکي: اپپ، هيوليک، پفايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناپرېکيدونکي تابع افرطيت **Extrema stetiger Funktionen**

يو ناپرېکيدونکی تابع په يوه پای رابند انتروال $[a, b]$ لږ تر لږه يو مينيموم او يو ماکسيموم لري.




ليکونکي: اپپ، هيوليگ

يو $c > 0$ شتون لري د

$$(x + y)^n \leq c(x^n + y^n)$$

سره د $x, y \geq 0$ لپاره

د بنووني ته د $x \neq 0$ لپاره ( حالت $x = 0$ ساده دی) ليکو

$$z = y/x$$

او ناپرېکيدونکی تابع

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f(z) = \frac{(1+z)^n}{1+z^n}.$$

څیړو.

دا چې $\lim_{z\to\infty} f(z) = 1$ دی، نو یو $b > 0$ شتون لري، داسې چې $f(z) \le 2$ د $z \ge b$ لپاره باوري کوي. د

$$c = \max\left\{2, \max_{z\in[0,b]} f(z)\right\}$$

سره لاس ته راځي

$$f(z) = \frac{(1+z)^n}{1+z^n} \le c$$

او له دې سره پورته غوښتنه

لیکونکي: اېپ، هیولیګ

## برابرډوله ناپرېکیدنوالی Gleichmäßige Stetigkeit

یو تابع $f$ په یوه انتروال $D$ برابرډوله یا برابرارزښته ناپرېکېدونکی دی ، که د ټولو $\varepsilon > 0$ لپاره یو $\delta_\varepsilon$ شتون ولري ، دا سې چې راکړي

$$|x-a| < \delta_\varepsilon \;\Rightarrow\; |f(x) - f(a)| < \varepsilon$$

د ټولو $x, a \in D$ لپاره.

د $f$ د تنها ناپرېکېدنې په برعکس $\delta_\varepsilon$ د $a$ په واک کې نه ده. تنهاپه یوه محدود رابند انتروال کې ناپرېکېدنوال کی او برابرارزښته یا – ډوله ناپرېکېدنوالی سره ورته دی.

لیکونکي: هیولیګ، پفایل

## په ټکي ډول پولې ته تلنه Punktweise Konvergenz

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توابعو $(f_n)$ يوه پرلپسي په يوه انټروال $D$ ټکي ډوله د پولي تابع $f$ په لور پولي ته ځي.

$$f_n \underset{\text{pktw.}}{\longrightarrow} f,$$

كه $\lim_{n\to\infty} f_n(x) = f(x)$ وي د ټولو $x \in D$ لپاره.


ليكونكي: اپپ، هيوليګ

په ټکيډوله پولي ته تلني بايد نه دی چې ناپرېکېدنوال او بندوالی ساتلي پاتي شي.

د بېېلګي په توګه د $f_n(x) = x^n$ ټکي ډوله پوله ارزښت په $[0,1]$

$$f(x) = \begin{cases} 0 & 0 \le x < 1 \\ 1 & x = 1 \end{cases}$$

په ښي انټروال پای پرېکېدونکی دی، لکه په کينه څېره کي چې ښوول شوی دی.




د يو كونورګنت لړۍ بېلګه چې د نامحدود پوله تابع په لور ښی څېره د پرلپسي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$f_n(x) = \begin{cases} n^2 x, & 0 < x \leq 1/n \\ 1/x, & 1/n < x \end{cases},$$

ښايي ، چې په $(0,1)$ ټکي ډوله د پوله تابع $f(x) = 1/x$ په لور پولې ته ځي.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

برابرارزښته يا برابرډوله پولې ته تلنه **Gleichmäßige Konvergenz**

د توابعو يوه پرلپسي $(f_n)$ په يوه انتروال $D$ برابرډوله د يوه پولي تابع $f$ په لور پولې ته ځي،

$$f_n \underset{\text{glm.}}{\longrightarrow} f,$$

که هر $\varepsilon > 0$ ته يو $n_\varepsilon$ شتون ولرى، داسې چې

$$n > n_\varepsilon \Longrightarrow |f(x) - f_n(x)| < \varepsilon$$

د ټولو $x \in D$ لپاره باور ولري.
د کوشي قضيې په مرسته کېدى شي برابرډوله پولې ته تلنه بې د پولېتابع نسبت څخه تعريف شي. سرى ورته شرطونه لاس ته راوړي، داسې چې

$$m, n > n_\varepsilon \Longrightarrow |f_m(x) - f_n(x)| < \varepsilon$$

د ټولو $x \in D$ لپاره بايد باور ولري.

که توابع $f_n$ ناپرېکېدونکي وي، نو پوله تابع $f$ هم ده.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

د درېګوډي نامساواتو څخه لرو

$$\begin{aligned} &|f(x_0) - f(x)| \\ &\leq |f(x_0) - f_n(x_0) + f_n(x_0) - f_n(x) + f_n(x) - f(x)| \\ &\leq |f(x_0) - f_n(x_0)| + |f_n(x_0) - f_n(x)| + |f_n(x) - f(x)|. \end{aligned}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د په خوښه $\varepsilon > 0$ ته د برابرډوله کونورګنت له امله یو $n_\varepsilon$ شتون لري، داسې چې د $n > n_\varepsilon$ لپاره

$$|f_n(y) - f(y)| < \varepsilon \quad \forall\, y \in D$$

باوري کوي. د یوه داسې $n$ لپاره اخرنی او لومړنی ترم $< \varepsilon$ دي، که $|x - x_0| < \delta_\varepsilon$ وي. دا له $|f(x) - f(x_0)| < 3\varepsilon$ لاس ته راځي او له دې سره $f(x) \to f(x_0)$ د $x \to x_0$ لپاره.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

